د افغانستان اسلامي امارت
د عـــامې روغتيا وزارت
د مقام د دفتر لوی رياست
د ويانديويي، اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

# روغتيا او ژوند



۴
گڼه

دويم پړاو، ربيع الاول ۱۴۴۷

۱۴۰۴/۶/۱ هـ لمريز

# روغتیا او ژوند

مسؤل مدیر: ګلزاده سنګر

کتنپلاوی: الحاج شیخ محمد طاهرحلیم، ډاکټر شرافت زمان امرخیل،مولوي نورالله درویش رحمت الله مؤمن،عتیق الله صاحبزاده، شفیق الله کوچی، ډاکټر سردار خان

ګرافیک ډیزاین: ضیاءالرحمن صدیقي

خبریالان: اکرام اللّه کریمي، نصیر احمد حیدري

د اړیکي شمیره: 020-2301374

برېښنالیک: info.access@moph.gov.af

وېبپاڼه: www.moph.gov.af

پته: د عامې روغتیا وزارت څلور لاري، وزیر محمد اکبرخان سړک، کابل - افغانستان

یادونه: په دې مجله کې د لیکل شویو علمي مطالبو مسؤلیت د لیکوالانو پر غاړه دی. له مطالبو څخه یې ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.

# لړلیک


| ګڼه | لړلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرلیکنه | ۱ |
| ۲ | د وینې ملي بانک | ۲ |
| ۳ | د پنځه کلنۍ څخه کم عمره ماشومانو ته د ناروغیو په درملنه کې د زینک (Zinc) ورکړې اهمیت | ۴ |
| ۴ | د بلخ عامې روغتیا ریاست پېژندنه او فعالیتونه | ٦ |
| ۵ | روغتیایي پیغامونه | ۸ |
| ٦ | مطالعه واقعات تشریحی Hepatitis B Virus نزد کاهلان نظر به سن و جنس در سال ۱۴۰۱ | ۹ |
| ۷ | د کونړ زلزله ځپلو ته روغتیایي خدمتونه | ۱۲ |
| ۸ | د عامې روغتیا وزارت یو شمېر مهم فعالیتونه او لاسته راوړنې | ۱۳ |
| ۹ | نبوي لاربنود | ۲۰ |
| ۱۰ | اختلالات تایراید | ۲۳ |
| ۱۱ | ولایتي سفرونه | ۲۷ |
| ۱۲ | مهمې ناستې | ۳٦ |
| ۱۳ | کیست هیداتید کبد یا جګر | ۳۹ |
| ۱۴ | خبرونه او راپورونه | ۴۳ |

# سرليکنه

**د نوې جوړې شوې ملي پالیسۍ تطبیق سره به روغتیایي خدمتونه پیاوړي او ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي:**

نَحْمَدُهُ وَنصلی عَلَى رَسُولِهِ الْكَرِيمِ، أَمَّا بَعْدُ أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

عامې روغتیا وزارت یو له هغه کلیدي وزارتونو څخه دی، چې فعالیتونه یې د هېواد د هر وګړي د روغتیا د تأمین لپاره ډېر ارزښت لري، د همدې ستر مسـؤولیت د ترسره کولو په موخه د افغانسـتان اسلامي امارت مهرباني رهبرۍ چې تل یې د روغتیا سکټور څخه مخلصـانه ملاتړ کړی او تر خپله وسه یې دې سـکټور ته مالي او تخنیکي امکانات برابر کړي، چې له کبله یې د روغتیا برخې خدمتونه په ښـه توګه هېوادوالو ته رسول شوي دي.

دا چې له تېرو لسـیزو راپدېخوا روغتیایي سکټور تر ډېره حده پر بهرنیو مرستو تکیه پاتې شوی، روغتیایي خدمتونه او روغتیایي تسهیلات په غیر عادلانه توګه وېشل شوي، اوس د عامې روغتیا وزارت غواړي چې د خپلو موجوده امکاناتو په کارولو سـره تر ډېره د روغتیا برخې بودیجه په تدریجي توګه خپله تامین او د روغتیایي خدمتونو د متوازن انکشـاف لپاره عملي اقدامات ترسره کړي چې له ډلې یې یوه مهمه برخه د **نوې ملي پالیسۍ** جوړول دي.

نوې جوړه شوې ملي پالیسـي چې د کورنیو او نړیوالو روغتیایي شریکانو سره په ګډه ترتیب شوې د منظمو اصولو او ګډې همغږۍ له لارې د دې پالیسـۍ پر مټ د روغتیایي برخې لومړیتوبونه په نظر کې نیول شـوي، تر څو په ټول هېواد کې روغتیایي خدمتونه پیاوړي او ولس ته د اسـانتیاوو رامنځته کېدو سبب شي او هم به د دې پالیسـۍ په تطبیق سره د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د هېواد ټولو وګړو ته د غوره روغتیایي خدمتونو وړاندې کېدو تر څنګ دې برخه کې ګڼ شمېر پرمختګونه رامنځته شي.

## د وينې ملي بانک

د عامې روغتيا وزارت اړوند د وينې ملي بانک خدمتونه!

د عامې روغتيا وزارت اړوند وينې ملي بانک چې د مرکز کابل ولايت په سينما پامير سيمه کې موقيعت لري د مرکز په ګډون د کابل په ۸ دولتي روغتونونو او د ۳۴ ولايتونو د ولسواليو کچې، ولايتي او سيمه ييزو روغتونونو کې فعالې څانګې لري، چې د نږدې ۳۰۰ روغتيايي کارکوونکو په درلودلو سره هېوادوالو ته په بېلا بېلو برخو کې روغتيايي خدمات وړاندې کوي.

سربېره پر دې د وينې ملي بانک له لوري د مرکز کابل په ګډون د هېواد په ۷ حوزو کې د هيموفيليا ناروغانو د درملنې مرکزونه پرانيستل شوي، چې په وړيا توګه ناروغانو ته روغتيايي خدمات وړاندې کوي.

### معلومات در مورد خدمات بانک ملی خون وزارت صحت عامه!

بانک ملی خون وزارت صحت عامه، که در ساحه سینما پامیر مرکز ولایت کابل موقعیت دارد، در ۸ شفاخانه دولتی کابل و ۳۴ شفاخانه ولایتی، ولسوالیها و شفاخانه های حوزوی به شمول مرکز، شعبه های فعال دارد، که با ۳۰۰ تن از کارمندان آن خدمات صحی را در بخش های مختلف به شهروندان ارائه می کنند.

علاوه بر این، بانک ملی خون در ۷ ولسوالی کشور به شمول کابل مراکز تداوی بیماران هیموفیلیا را افتتاح کرده است که خدمات صحی رایگان را به بیماران ارائه می کنند.



# د پنځه کلنۍ څخه کم عمره ماشومانو ته د ناروغیو په درملنه کې د زینګ (Zinc) درملو د ورکړې اهمیت

لیکوال: رنځورروال ډاکټر واحد اللّه‌حبیبي

دکوچنیانو د داخله ناروغیو اسوشیټ پروفیسور

## زینک څه شی دی؟

زینک د یوولسو غټو عناصرو له جملې څخه یو مهم عنصر دی، کوم چې د عضویت په ټولو حجرو کې پیدا کېږي، چې د انسان په وده او لوییدو کې لویه ونډه لري.

علاوه پر دې د ماشومانو د معافیت سیستم پیاوړی کوي او (Epithelial) حجراتو په پوښلو او ساتلو کې مهم رول لري.

زینک د سلو میټالو انزایمونو یو مهم جز دی، خو د زینک مهمه بنسټیزه دنده د (کوـ کتلیست) په حیث ده ( بله تیوري وایې چې زینک د داخل حجروي هورمونونو په څېر هم دنده ترسره کوي، د بېلګې په توګه د حجراتو وده او د داخل الحجروي ایونونو لکه کلسیم د رول تنظیم).

برسېره پر دې د پروټینو د جوړښت په وخت کې د نیوکلیک اسیدونو په میتابولیزم کې خاص رول لري، د ډای اوکسي رایبو نیوکلیک اسید (DNA) او رایبو نیو کلیک اسید (RNA) ټینګښت یا پولیمیزایز کول چې په زینک پورې اړه لري.

زینک د عضویت په ټولو اعضاوو، نسجونو، مایعاتو او افرازاتو کې موجود دی.

زینک د حجروي پردې د بیولوژیکي دندې د ترسره کولو لپاره ډېر مهم او ضروري دی او هم د کاربوهایدریټونو، پروټینونو او نیوکلیک اسیدونو په استحصال (لاس ته راوړلو) او تجزیه کې برخه اخلي،د وجود څو انزایمونو لکه کار بونیک انهایدراز (د کاربن ډای اکساید په تبادله کې) د کولمو د کاربوکسي پیپټایداز (د پروټین د هایدرولیز لپاره) او د ځیګر د ډیهایډروجنیز په جوړښت کې رول لري.

په دې نږدې وختونو کې ښودل شوې ده چې په جنیټیکي انتقال کې هم رول لري،زینک د عضویت لپاره له اوسپنې وروسته یو مهم او اړین عنصر دی، زینک د تولد لپاره د اساسي مایکرو نیو ټرانټیونو له جملې څخه یو هغه دی چې خاص فزیالوژیک ارزښت لري، چې له دوه سوه د زیاتو انزایمونو په پارېدو (تحریک) کې ځانګړی رول لري.

## د زینک غذايي منابع:

زینک اکثراً په حیواني پروتینو، ځیګر، غوښــــــه، سمندري صدفونو، د ماهیانو په غوښو، خسته جاتو لکه چارمغز، نخود او لبنیاتو لکه پنیر ســــربېره پر دې په حبوباتو کــې، لوبیا، نخود، غله جاتو لکه غنمو کــې په غني ډول پیداکېـږي. خو په غذا کــې د (Pythic acid) یوه ماده ده او په هغه نباتاتو کې چې غذايي ســرچینه ولري زیات پیدا کېـږي چــې دې ته IP6 یا (Inosital Hexa Phosphate) هم وايي چې د دې خاصــیت دا دی چې دا اسید یوه لومړنۍ طریقه د فاسفورس ده چې په نباتاتو لکه لوبیا، غله جاتو او خســته جاتو کې ذخیره کېږي او موجودیت يې د زینک بیولوژیکي ارزښــت کمـــــــــــــوي.

**د زینک جذب او میتابولیـــــــــــزم:**

زینک د (Passive Diffusion) له لوړ غلظت څخه ټيټ غلظت ته غیر فعال تېرېدنې د عملیې په واســطه د وړو کولمو له لارې جذبېږي. جذب شوی زینک اکثراً د لنډ مهال لپاره د ځیګر په واســــطه رانیول کېږي او په میتابولیزم رسېږي. جذب شوی زینک د پورتال سیستم له لارې د البومین یا ترانســـفرین په واسطه انتقال او ډېرو نســـجونو ته توزیع کېږي چې ٩٠٪ یې هډوکو او مخططو (پټه لرونکو) عضــــلاتو ته رسېږي، د زینک اطراح او جذب دواړه په منظم ډول ســره کنټرولېږي، اطراح يې اکثراً د غایطه موادو له لارې صورت نیسـي.

### د زینک فقدان (نشتوالی) یا نقیصه (کمښت) څه وخت منځته راځي؟

١. کله چې داسې خواړه وخوړل شي کوم چې د زینک جذب کموي لکه د قهوې او چای څښــل چې د زینک ســره یو ځای وخوړل شـــي نو د دې جذب کمېږي.
٢. د هغو خوړو خوړل چې د مینځلو په وخت کې ښــه وســولول شـــي لکه د وریجو مینځل مخکې له پخولو څخـــــــــــــــــــــــــــــــه
٣. د تنفســــــي ناروغیو او د نس ناستي په شدېدو او تکراري پېښـــــــــــــــــــــــو کې
٤. د سوء جذب په نښـــو نښــــانو (سندروم) کې
٥. د شدېدې ځنډنۍ خوارځواکۍ په پېښـــــو کې
٦. په خوړو او غذايي موادو کې د زینک کمښـــت
٧. په امیدواره مېندو او شــیدو خوړونکو کوچنیانو کې هغه مېندې چې کوچنیانو ته شــیدې ورکوي په دوی کـــــې د زینک اړتیا زیاته لیدل کېـــــږي
٨. هغه ماشومان چې د ځوانۍ مرحلې ته نږدې وي په دوی کې د زینک کمښــت لیدل کېږي؛ ځکه چې د فعالې ودې او نشونما په درشل کې دي او د نسجونو د جوړښـــــــــت لپاره ډېر زینک ته اړتیا لري
٩. هغه ناروغان چــې د زیات وخت لپاره درګ (ورید) له لارې تغذیه اخلــــــــــــــــــــــي
١٠. (autosomal recessive) تشوشاتو (ګډوډۍ) په اخته ناروغانو کې ترسره شوو څېړنو دا ښودلې چې دوی د زینک په شدېد نشــتوالي اخته وي (چې سبب يې په کولمو کې د زینک په جذبونکي سیســـتم کې کمښـــــــــــــــــت دی).

## د زینک د کموالي نښې نښانې:

د ښــــوونځي څخه مخکې او د ښــــوونځي په عمر کې خرابه وده د زینک د کموالي ښکاره نښـــه ده، په نوبالغو کې د جنســــي او گونادیزم هارمونو د ځنډنی پخېدل د زینک د کمښـــت نښـــه ده، همدارنگه نورې نښې نښانې لکه کم خوني، بې اشتهایي، اسهال، د وینښـتانو توېیدل، د پوستکي ناروغی، د معافیتي سیسـتم د وظایفو خرابوالی، دزخمونو ژر نه جوړېدل او د هډوکو ســتونزې د زینک په نشتوالي پورې اړه لري.

د شــیدو ورکولو په مقدمه مرحله کې ( Vesico-bollus ) کوچنی او لویې تناکې) د پوستکي وچوالي، د سـر او پوســتکي ایکزیماتوز افات چې اکثرأ ( orofacial ) د خولې شـــاوخوا ، (Perineum) او ( acral ) دلاسونو او پښـــــــو گوتو) په ساحو کې لیدل کېږي.

د وینښتانو توېیدل او د سترگو تغیرات لکه د سترگو التهاب، د ځېږمو التهاب(Blepharitis)، له روښـنایي نه وېره، مزمنه نس ناسـتې، د ودې نښــــــــونما تاخر، د خولې د جوف او غاښونو د وریو التهاب (Stomatitis)، د ذایقې د احســـــاس له مینځه تلل، نا آرامي او نور واقع کېدای شي.

## د زینک د کمښت تشخیص:

د زینک د کمښـت تشخیص اساسأ د غذایي موادو د تاریخچې، په دوامداره ډول د زینک لږ مقدار اخیســتل او په زیاته پیمانه د کولمو څخه د زینک د ضایع او د کلینکي نښو نښـانو د موجودیت په واسطه ترسره کېږي.

همدارنگه د وینــې په پلازما، ادرار او خولو (Sweats) کــې د زینک مقدار په لابراتوار کې د تشـــخیص وړ دی، چې په ماشومانو کې د وینــې په پلازما کــې د زینک نورماله اندازه (66-194 Microgram) ده.

خو د شـدیدې خوارځواکی ( کواشـیرکور) په اخته ماشـومانو کې د زینک تر ټولو ټیټه اندازه لیدل شوې ده.

## د زینک د کمښت درملنه:

د پورتنیو حالاتو کنټرول د ودې تاخر او یا د ټولو اعراضــو او علایمو د اصلاح او له منځه وړلو په خاطر کولای شو د خولې له لارې زینک توصیه کړو.

په کوچنیانو کې د زینک ورځنی ضرورت (3.5-mg ) په ورځ کې دی.

په کســبي ډول د زینک فقدان یا کمښـــت حالت باید د( 0.5-1mg elemental zinc/kg body weight/day ) په ورځ کـې له نیم تــر یو ملي گرام په هر کیلو گرام وزن د بدن) د څو اوونیو یا میاشـــــتو لپاره توصیه کېږي. په خوارځواکو کوچنیانو کې کېدای شـي ډېر زینک ته (2-4mg/kg/day) پورې اړتـــیاوې او هم د کولمو په ناروغـــیو او اسهالاتو کې په دغه ډوز توصیه کېږي، چې یو ملي گرام ایلیمنټل زینک د (4.5) ملي گرام زینک ســـــلفیټ او(۳) ملي گرامه زینک اســـــــــــــیتیت څخه لاســـــــــــــته راځي.

## د زینک د درملنې توصیه:

۱ـ د کوچنیانو په هر ډول نس ناستي کې باید د زینک سلفیټ شـربت یا گولۍ توصــیه شــي. ځکه چې په دولتي روغتونونو او روغتیایي مرکزونو کې په وړیا توگه وېشل کېږي.

2ـ تر شـپږ میاشـتو کم عمره ماشـومانو ته د زینک لس ملي گرامه گولۍ یا( 2.5cc ) نیمه کاشـوغه شـربت چې هر ۵ ملي لیتره یې ۲۰ ملي گرامه زینک لري، د لســـو څخه تر څوارلس ورځو پورې ورکړل شي.

3ـ د شپږ میاشتو څخه تر ۵ کلنۍ پورې کوچنیانو ته د زینک ۲۰ ملي گرامه گولۍ په ورځ کې، یا یوه کاشوغه شربت د لســو نه تر څوارلس ورځو پورې توصیه شي.

**د زینک اقتصادي گټې:** په (۲۰۰۸) میلادي کال کې د نړۍ تـر ټولو مهمو او سترو اقتصـاد پوهانو چې څو تنو یې د نوبل جایزه هم ترلاسه کړې وه، د ټولې نړۍ سترې سـتونزې او د هغې لپاره د حل لارې په نښـه کړې، چې د ټولو څخه ډېره ارزانه، اسانه او د تطبیق وړ حل لاره یــې ناروغانو ته د Vitamin A او زینک ورکــړه وه، دا ځکه چــې په Vitamin A او زینک باندې د یو ډالر لگښـــت ملت ته ۳۰ چنده گټه رسوي.

رنځوروال ډاکټر واحدالله حبیبي:
د ننگرهار سیمه ییز تخصصي روغتون کوچنیانو څانگې شف او ترینر متخصص

**Reference:**

1.Akbar khan parvez, Basic of pediatrics 2014, paramount publishing enterprise, chapter 6 page 97.

2.Gupte surag, pediatric Emergency 2010 peepee, chepter 8 , page 123

3. kliegman Robert M, Stanto Bonitan, schor nina F, geme Joseph W, Behrman Richard e, nelson text book of pediatric, 20th edition Elsevier chapter 54 Volume 1

4. Ministry of Public Health, guideline of role of zinc in children ,1st edition Kabul Afghanistan.

## د بلخ عامې روغتیا ریاست!

د بلخ ولایت عامې روغتیا ریاست په مزارشریف ښار کې د روضې مبارکې شمال خوا ته موقعیت لري، چې په (۱۳۱۸) کال د محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال تاسیس شو. تر دا مهاله د یاد ولایت په کچه په لاندې برخو کې روغتیایي خدمتونه وړاندې کیږي،

.

### بلخ عامې روغتیا ریاست لاندې آمریتونه لري:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | د لومړنیو روغتیایي چارو آمریت | ۱۰ | د بلخ امبولانس آمریت |
| ۲ | د انستیټیوټ آمریت | ۱۱ | د خوړو او درملو آمریت |
| ۳ | سیمه‌ییز روغتون آمریت | ۱۲ | آمریت د څارنې او پلټنې |
| ۴ | د انتاني روغتون آمریت | ۱۳ | د روږدو ۱۰۰ بستریز روغتون آمریت |
| ۵ | د سوختګي جراحي روغتون امریت | ۱۴ | ۵۰ بستریز روغتون آمریت د روږدو |
| ٦ | د روږدو ۴۰ بستریز روغتون آمریت | | |
| ۷ | ۵۰ بستریز روغتون آمریت د ښځینه روږدو | | |
| ۸ | د کمپ سخي د روږدو ۵۰ بستریز روغتون آمریت | | |
| ۹ | د کود و برق ۵۰ بستریز روغتون آمریت | | |

### د بلخ عامې روغتیا ریاست عمومي مدیریتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | نظارت او ارزیابۍ مدیریت | ۷ | د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د روغتیا مدیریت |
| ۲ | روغتیایي قوانین او برسۍ مدیریت | ۸ | د کارکوونکو چارو لوی مدیریت |
| ۳ | تغذیې مدیریت | ۹ | د عامه اړیکو لوی مدیریت |
| ۴ | نري رنځ مدیریت | | |
| ۵ | فارمسي مدیریت | | |
| ٦ | د ساري ناروغیو مدیریت | | |



## روغتیايي مرکزونه:

د بلخ عامې روغتیا ریاست اړوند ۱۲ روغتونونه او ۱۸۸ روغتیايي مرکزونه په بېلابېلو برخو کې روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي، چې له جملې یې ۱۵۱ روغتیايي مرکزونه په ولسوالیو کې فعال دي.

د اسلامي امارت د دوهمې واکمنۍ را وروسته د یو روغتون په شمول (۵۳) روغتیايي مرکزونه منظور شوي، چې له جملې یې یو شمېر ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او د ځینو رغنیزې چارې دوام لري.

**د بلخ عامې روغتیا ریاست وروستۍ لاس ته راوړنې:**

د سیمه ییز روغتون بسترونه له ۴۰۰ څخه ۸۵۰ ته لوړ شول، اکسیجن پلانټ او د ۱۵ بسترونو په ظرفیت په کې مجهزه (ICU) فعاله شوه، چې ورسره د یاد روغتون خدمات لوړ او معیاري شول.

دغه راز یو د انتاني ناروغیو ۵۰ بستریز، یو د سرطاني ناروغیو ۵۰ بستریز روغتون او یو روغتون هم د سوختګۍ ناروغانو لپاره خدمات وړاندې کوي.

دغه راز په هغو ولسوالیو کې د یو ـ یو ۵۰ بستریز روغتون د جوړولو چارې هم دوام لري، چې‌له دې مخکې یې روغتونونه نه درلودل.

د بلخ ولایت عامې روغتیا ریاست شاوخوا (۴۵۰۰) روغتیايي کارکوونکي لري، چې د بلخ ولایت ټوله جغرافیايي ساحه یې په خپلو روغتیايي خدماتو پوښلې.

د بلخ عامې روغتیا ریاست د خصوصي او دولتي سکټور څخه په منظم ډول څارنه ترسره کوي.

د ریاست مراجعینو او پیوازانو لپاره منظم ځایونه او ډېرې اسانتیاوې لري.

د بلخ عامې روغتیا ریاست د شمال زون ټولو ښېړینو پېښو ته په وخت ځان رسوي.




# روغتیايي پیغامونه!

۱ــ د منظمو فزیکي فعالیتونو، سبزیجاتو، ترکاریو او تازه مېوو استعمال او په خوراکي توکو کې د مالګې کم کارولو سره، د چاغښت، شکرې ناروغۍ، وینې لوړ فشار، د زړه حملې او سکتې څخه مخنیوی وکړئ

۲ــ د تنباکو استعمال، د زړه حملې او دماغي سکتې خطر زیاتوي؛ نو له همدې امله د تنباکو له استعمال څخه ډډه وکړئ.

۳ــ د سترګو د ښه لید لپاره د مطالعې یا کار پر وخت له تېزې یا تتې رڼا څخه ډډه وکړئ.

۴ــ خام خواړه له پخو شویو خوړو جلا وساتئ، ترڅو پاخه شوي خواړه له میکروبونو څخه خوندي پاتې شي او تاسې او ستاسو کورنۍ د ناروغیو څخه وژغورل شئ.

۵ــ د ښلا ښلو ناروغیو لکه د کولمو چینجي او زخمونو د مخنیوي لپاره هېڅکله په پیلو پښو تګ راتګ مه کوئ.

٦ــ د ګرځنده موبایل له اوږد مهاله کارولو څخه ډډه وکړئ، ترڅو د بریښنایي مقناطیسي څپو له زیانونو څخه خوندي پاتې شئ.

۷ــ د خوراکي توکو د ډېر سره کولو او پخولو څخه ډډه وکړئ، ځکه چې دازهرجن کیمیاوي مواد تولیدوي

۸ــ د پخلي لپاره له پاکو اوبو څخه استفاده وکړئ

۹ــ له شپږ میاشتو وروسته خپل ماشوم ته د مور شیدو تر څنګ په کمه اندازه نرم خواړه پیل کړئ او په تدریج سره یې اندازه زیاته کړئ، ترڅو روغتیایي وده وکړي.

۱۰ــ که چیرې معلومه شوه چې ستاسو د وینې فشار لوړ دی، باید له معالج ډاکټر سره مشوره وکړئ او له خپل سرو درملو څخه په جدي ډول ډډه وکړئ، ترڅو ستاسو د ناروغۍ په وخت درملنه وشي او د دې ناروغۍ له بدو عواقبو وژغول شئ.

۱۱ــ د شکر ناروغۍ د وینې لوړ فشار او چاغښت څخه د مخنیوي په موخه د خوږو او غوړو خوړو څخه تر ډېره ډډه وکړئ.

۱۲ــ کله چې له درملتون یا روغتیایي مرکز څخه درمل اخلئ په اندازه، وخت او طریقه یې ځان پوه کړئ؛ تر څو له ناروغۍ ښه او له جانبي عوارضو خوندي شئ..


## مطالعه واقعات تشریحی Hepatitis B Virus نزد کاهلان نظر به سن و جنس در سال ۱۴۰۱ در شفاخانه ملی و تخصصی انتانی کابل


تحقیق کننده گان: رنځوریار داکتر فریدالله (عمری)
ترینر متخصص در شفاخانه ملی و تخصصی انتانی

الحاج متخصص سپین گل سبحانی( څېړنوال)
رییس شفاخانه ملی و تخصصی انتانی

### خلاصه

انتان هیپاتیت B یک مشکل جهانی است که به صورت هیپاتیت حاد ـ مزمن، عدم کفایه شدید کبدی و مرگ در حال پیشرفت است.
انتان بیشتر از مادر منتن به طفل و تماس با خون و مایعات بدن آلوده منتقل می شود. زنان باردار، نوجوانان و همه بزرگسالان در معرض خطر بالای انتان هیپاتیت B قرار دارند و همچنان خون این افراد از نظر (HBV) باید معاینه گردد.
با در نظر داشت و توجه به واقعات و اختلاطات مرض (HBV) و سوابق این مرض که یکی از امراض ساری و اختلاطی مانند سایر کشور های جهان در کشور ما نیز میباشد بنآ تحقیق ذیل به هدف دریافت واقعات (HBV) نظر به سن و جنس بالای مراجعین شفاخانه انتانی کابل که به شکل (IPD) یا داخل بستر به لوحه (HBV) که به خواست خود در سال (۱۴۰۱)مراجعه نموده اند صورت گرفته است.





**ادامه...**

در این نتیجه گیری ما دریافتیم که افراد زیر (۵۰) ســـال و بالاتر از (۱۵) ســــال در خطر بلند(HBV) قرارد دارند و همچنان اکثریت مریضان ما افرادی بودند که مادران شان مصاب را تشکیل می دادند افرادی بودند که واکسین اخذ نکرده بودند و مریضـانی که کمترین واقعات را تشکیل میداد افرادی بودند که مواد مخدر را به شکل زرقی استفاده می نمودند.

**مقدمه**

(HBV) در جهان یک مشــکل بزرگ صحی بوده و یک حادثۀ بزرگ می باشد و برای جامعۀ جهانی از نقطۀ نظر صحی و اقتصــادی یک مشکل جدی در اکثریت کشورهای جهان می باشد مگر در بعضـی از کشـور ها اکنون به شکل طبیعی انتقال(HBV) از بین رفته است زیرا که در اکثریت کشور های جهان از دورۀ طفولیت تطبیق واکسین (HBV) جهت وقایه توصیه می شود.

اما در کشـــور عزیز ما افغانســـتان هنوز هم (HBV) واقعات زیاد دارد، که هرگاه مزمن شود و به طرف اختلاطات سیر نماید سبب ایجاد مشکلات در نزد مریضان گردیده و همچنان باعث افزایش مصارف هنگفت بدوش سیستم های صحی و فامیل این مریضان می شود و با وجود تداوی شاید معیوبیت های جدی را هم در پی خواهد داشت.

۳۳٪ نفوس جهان به خطر انتان(HBV) مواجه می باشند . که تقریباً در سطح جهان (مرگ و میر) در اثر امراض انتانی یک فیصـدی زیاد را بوجود می آورد.

مثلاً در اثر امراض (HBV) سالانه اضافه از یک میلیون نفوس از بین می روند . که نشـــاندهندۀ اهمیت موضوع بوده و هر آنچه به حیث واقعات (HBV) از نظر سن و جنس در کشور شناخته می شود در حقیقت دریافت های تحقیق های کشورهای همسایه و دیگر کشورها می باشد بناً انجام چنین تحقیق ها در شرایط فعلی ضروری پنداشته می شود.

**اهمیت تحقیق**

بناً تحقیقی که درقســــمت (HBV) صورت می گیرد به منظور این است که یک پلان مشـــــخص تداوی برای این نوع (Hepatitis) را پیشنهاد نماییم تا باشد یک تداوی ارزان ، مناسب و مؤثری که از مصارف بیهودۀ منابع مالی جلوگیری شود . که این عمل از یک طرف ازپیشرفت چنین هیپاتیت ها جلو گیری نموده ( پیشرفت به اختلاطات کشنده ) و از طرف دیگرسبب دریافت راه های مؤثر برای پیشرفت وترقی کشـــــور می شود تا در آینده در بخش وقایه و تداوی مریضـــــان (HBV) در داخل کشـــــور خود مشـــــکلات نداشته.



**ادامه...**

میتود این مطالعه بالای (٦٠) مریض داخل بستر با تشخیص بروسیلوزس بالای (۴۰) دوسیه مریضـان در نیمه دوم سال (۱۳۹۸) و ۲۰ دوسیه مریضان در نیمه اول سال ۱۳۹۹ به شکل تشریحی یا(Descriptive) از نوع (Case series)با طریقه (prospective) اجرا گردیده است. که بعد از اجرای معاینات مشخص لابراتواری نزد مریضان تشخیص بروسیلوزس گذاشته شده و تحت تداوی داخل بستر قرار گرفته اند که در ختم تحقیق نتایج به شکل جدول و فیصـــــــــــــــــــــــــــــــدی ها نظر به (variable)ها توضیح گردید اند.

نتایج از جمله (٦٠) دوسیه مورد تحقیق بروسـیلوزس (۸۳٪) واقعات در سـال (۱۳۹۸- ۱۳۹۹) در سـنین (۱۵-۴۴) سـال و (۱۴٪) واقعات در ســــنین (۴۵-۵۹) ســـال و (۳٪) واقعات بروســـیلوزس در ســـنین (٦٠) ســـالگی و بلند تر از آن رُخ داده اســـت.

**نتیجه گیری:** از تحقیق ذیل چنین برداشت می شود که زیادترین واقعات بروسیلوزس نظر به سن در سنین (۱۵-۴۴) سالگی یا سنین متوسط زنده گی و کمتر واقعات در سنین بلند تر از ۴۵ سالگی رخ داده است و از نظر جنس زیاد ترین واقعات در طبقه اناث نسبت به ذکور اتفاق افتاده است.

## ماخذ


1. Nichilas j, Beeching, Micheal j, carbel. brucellosis. [book auth.] S., Kasper, L., Longo, L., Loscalzo, J., Braunwald, E., Hauser, L., and Jameson, J Favci. Harrison's Principles of Internal Medicine. 19th. s.l.: McGraw Hill Education, 2015, Vol. 2, 194e, pp. 194e-199e.2. brain S, Schwartz,MD. Brucellosis. [book auth.] Stephen j,Mcphee Maxine Papadakis. Currant Medical Diagnosis and Treatment. 56th. s.l.: Mc Graw Hill education LANGE, 2017, Vol. 1, 33, pp. 1472-1473.3. trend of reported human cases of brucellosis in kingdom of saudi arabia. aloufi, abdulaziz. . 1 march,2016, 1 march 2016, journal of epidemiology and global health, Vol. 6.4. Clinical appearance of brucellosis in adults. Kurtaran, Behice, et al. 3, istambol: Ebsco information services, 3 jun 2012, Vol. 42, pp. 497-505.5. Human Brucellosis in Portugal -Retrospective analysis of suspected clinical cases of infection from 2009-2016. Ana pelerito, rita corderio,rita Matos,Maria Augusta Santos,Sosia Soeiro. [ed.] sergio costa oliveira. 10 july 2017, lisnon: s.n., 10 july 2017..



## کونړ کې زلزله ځپلو ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول او ورته رسېدنه!

د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزارت د کونړ ولایت دوروستۍ زلزلې له رامنځته کېدو وروسته د اغېزمنو کورنیو د روغتیایي اړتیاوو پوره کولو او د ټپیانو درملنې په موخه بېړنۍ روغتیایي غبرګون پیل کړ؛ چې په ترڅ کې یې اغېزمنو سیمو ته لسګونه روغتیایي ټیمونه استول شوي، په بېلابېلو مناسبو ځایونو کې ورته مؤقت روغتیایي مرکزونه جوړ شوي، د ټپیانو دلازمې درملنې او روغتیایي خدمتونو ارزونې په موخه د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او ځینو نورو مسؤلینو زلزله ځپلو سیمو ته سفرونه کړي او په ختیځ کې یې له بېلابېلو روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه لیدنې ترسره کړي دي.

د ټپیانو روغتیایي وضعیت ارزونې وروسته یې د هېواد بېلابېلو روغتونونو ته د درملنې په موخه ناروغان انتقال کړي او په دغه برخه کې یې له ټولو شته امکاناتو کار اخیستی.

دغه راز، د کونړ ولایت په مزار درې، خاص کونړ، څوکۍ ولسوالۍ او نورو اغېزمنو سیمو کې زلزله ځپلو کورنیو ته د ګڼو روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو تر څنګ د ملاریا او ناقله ناروغیو مخنیوي په موخه لسګونه زره پشه خانې (ماشلومې) وېشل شوي او د درملنې په برخه کې ورته ګڼې اسانتیاوې رامنځته شوي دي.

عامې روغتیا وزارت به د خپلو هېوادوالو د ژوند ژغورنې او خوندیتوب لپاره خپلې هڅې جاري ساتي، له ټولو امکاناتو به کار اخلي؛ تر څو د خلکو روغتیایي اړتیاوې پوره او ورته معیاري روغتیایي خدمتونه وړاندې شي.



# د عامې روغتيا وزارت د فعاليتونو او لاسته راوړنو کلنی راپور

**دوامداره فعاليتونه:**

۱- د ساري او غير ساري ناروغيو د خپرېدو مخنيوی.

۲-دوګړو د ټولنيزې روغتيا وده، د روغتيايي عادتونو دودول، د روغتيايي خدمتونو څخه د ګټې اخيستنې کچه لوړول او د ناروغتيايي عادتونو سره مبارزه کول.

۳- د لومړنيو، دويمي، دريمي روغتيايي خدماتو ترڅنګ د عدلي طب اړوند خدماتو وړاندې کول.

۴- په هيواد کې د چاپېريال ساتنې، د څښلو اوبو، د روغتيايي او خوراکي توکو او د با کيفيته درملو موجوديت څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره د اړونده برخو سره همغږي او کړنې تر سره کول.

۵-د شته روغتيايي مرکزونو له لارې معياري روغتيايي خدماتو ر امينځ ته کول او اړونده خدماتو ته پراختيا ورکول..

۶- د روغتيايي کارکونکو د روزنې برنامو پراختيا او بشپړول، د روغتيايي کارکوونکو د تخصصي کچې لوړول او د روغتيا په مختلفو برخو کی د علمي څېړنو پرمختيا.

۷- په منظم ډول د روغتيايي وضعيت ارزونه او د وژونکو او وبايي ناروغيو د مخنيوي او مهار کولو لپاره کوښښ کول.

۸- د روغتيايي سيستم معياري کول او د سټنډرډونو په رامنځته کولو سره د روغتيايي کارکوونکو د کاري جوازونو د معياراتو مطابق وېش.

۹- د خوړو او درملو د کيفيت اړوند د معيارتو په عملي کولو سره د مصؤنو درملو او خوړو بازار ته وړاندې کول.



# تشکیل

په ټولیزه توګه په کال ۱۴۰۳ هـ لمریز کې د عامې روغتیا وزارت د عادي او انکشافي بستونو شمیر اوه دیرش زره یو سل شپاړلس (۳۷۱۱۶ )وو چې:

۱- مرکزي بستونه ۴۴۲۸ څلور زره څلور سوه اته ویشت

۲- د مرکزي روغتونونو بستونه ۹۷۹۹ نهه زره اوه سوه نهه نوي

۳-ولایتي بستونه ۲۱۱۸۹ یویشت زره یو سل نهه اتیا

۴- ان تي ای( NTA) بستونه ۱۷۰۰ اولس سوه

همدارنګه د عامې روغتیا وزارت اړوند روغتیایي مراکز چې د تطبیق کوونکو مؤسساتو له لوري خدمات وړاندې کیږي نږدې ۲۷۰۰۰ تنه روغتیایي کارکوونکي په موقت توګه په خدماتو بوخت دي.

**په هیواد کې د شته دولتي روغتیایي مرکزونو نوعیت او شمیره:**

| شماره | د روغتیایي مرکز نوعیت | تعداد |
|---|---|---|
| ۱ | تخصصي روغتونونه | 35 |
| ۲ | حوزوي روغتونونه | 8 |
| ۳ | ولایتي روغتونونه | 27 |
| ۴ | د ولسوالی روغتونونه | 94 |
| ۵ | جامع روغتیایي مرکزونه | 442 |
| ۶ | اساسي روغتیایي مرکزونه | 1064 |
| ۷ | فرعي روغتیایي مرکزونه | 1408 |
| ۸ | روغتیایي ځالې | 645 |
| ۹ | ګرځنده روغتیایي ټیمونه | 444 |
| ۱۰ | نور روغتیایي مرکزونه | 122 |
| | مجموعه | 4289 |

دوام...

## ( کاري ساحې او لاسته راوړنې)

### مدیریت ،سیستم جوړونه، پالیسي، رهبري، قوانین، نوښتونه، راپورونه او همغږي

- ● - د عامې روغتیا وزارت د نوې رهبرۍ په راتګ سره د روغتیا ملي پالیسۍ پراختیا او جوړېدنه( د پنځو کلونو لپاره )
- ● - درهبرۍ په هڅو د خوراکي توکو درملو او روغتیايي محصولاتو د قاچاق د مخنیوي قانون توشیح کېدنه .
- ● - د درملیزو او خوراکي توکو تاسیساتو جامع لارښودونه تصویب او خپاره شول.
- ● - د لمړي ځل لپاره د غیر دولتي مؤسساتو او سازمانونو اړوند روغتیايي کارکونکو د معاشاتو ملي پآلیسۍ پراختیا تر سره شوه.
- ● - د روغتیا خیریه صندوق د طرحې نهایي کول.
- ● - د ۴۷ روغتیایي مرکزونو لپاره د پروپوزلونو او طرحې جوړول.
- ● - شپږ تقنیني مسودې ، دوه طرزالعملونه ، ۲۰۰ منشورونه ، پنځلس لایحې ، او اویا لارښودونه ترتیب شوي دي.
- ● - د عامې روغتیا وزارت درهبرۍ په وړاندیز او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړي شفقت له مخې د هېواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونو د جوړولو په موخه بودیجه تر لاسه او ابتدایي چارې یې تر سره شوې دي.

### د کارکوونکو چارو اړوند ( استخدام ، ظرفیت لوړونه او اکمال تخصص )

- ● - تېر کال په مرکزي او ولایتی بستونو کې نږدې شپږ زره درې سوه اوه شپیته (۶۳۶۷) مسلکي او حمایوي کارکوونکو ته د کار زمینه برابره شوې، چې اکثریت یې د ازادرقابت له لارې استخدام ته لار موندلې او د عامې روغتیا وزارت په تشکیل کې استخدام شوي دي.
- ● - د ظرفیت لوړونې برنامو د ښه تطبیق او اړتیاوو د تحلیل په موخه د (۳۳۰۰۰) کارمندانو لپاره د روزنې اړتیاوو ارزونې ډیټابیس جوړ شو همدارنګه تېر یو کال کې د روغتیا وزارت اووه ویشت زره څلور سوه اویا(۲۷۴۷۰) مرکزي او ولایتي کارکوونکو ته په بیلا بیلو مسلکي، حمایوي، اداري، مالي او روغتیایي برخو کې د ظرفیت لوړونې برنامې تر سره شوې دي.
- ● - د ۳۲ تخصصي رشتو نصاب او کریکولم څخه بیاکتنه وشوه او د نړیوال سټنډرډ مطابق درشتو مودې، د هر کال مکلفیتونه او د هرې رشتې دقیق استقامت تعین او ټولو ترینې او ترینز متخصصینو ته توزیع شو.



## د روغتیايي سیستم پراختیا

- ● - د عامې روغتیا وزارت د نوې رهبرۍ په هڅو تېر کال د نږدې شپږ میلونه ډالرو په لګښت د هېواد په اتو ولایتونو کې (۱۰۵) روغتیايي ځالې (FHH) جوړې شوې.
- ● - د کابل ولایت انتاني او افغان جاپان روغتونو کې د دوه راډیولوژي مجهز تشخیصیه مرکزونو جوړول، چې په یادو مراکزو کې به د سي تي سکین او ایکو خدمات هیوادوالو ته وړاندې کېږي.
- ● - د نږدې(۷۶) میلونه افغانیو په لګښت په صحت طفل روغتون کې د اکسیجن د تولید د یوې لویې دستګاه نصب، د برانکوسکوپي څانګې او جنراتوري برق فعالېدنه تر سره شوه.
- ● - په تخار ، بلخ ، کندهار ، هلمند، خوست او لوګر ولایتونو کې د جدي مراقبت خونو ( ICU ) جوړېدنه.
- ● - د هېواد په ۴ ولایتونو کې د سرطان د درملنې ۵۰ بستریز او د روږدو د درملنې ۴ مرکزونو جوړېدنه .

## د روغتیايي سیستم تمویل، تجهیز او شفافیت

- ● - د تېر کال په پرتله د افغانستان اسلامي امارت د روغتیايي سکتور په ملاتړ او تمویل کې ونډه زیاته شوې ده.

د ۱۴۰۳ هـ لمریز کال لپاره د تدارکاتي پروسو بهیر د شفافیت موثریت او مثمریت د تضمین په موخه بریښنايي شوی دی، چې د پوره شفافیت په اساس تېر کال (۳۸۸) لوی او واړه قراردادونه د یو اعشاریه دوه ملیارده افغانیو په لګښت تر سره شوي دي، همدارنګه د عامې روغتیا وزارت د مرکز په شمول، ۲۲ مرکزي، ۵ حوزوي او ۱۱ ولایتي روغتونونو ته د دوه اعشاریه شپږ ملیارده افغانیو په لګښت ( دوا، طبي ملزمه، مریضانو لپاره غذا، روغنیات...) اخېستل شوي دي.

## د یو کال په اوږدو کې لاندې روغتیايي خدمات هیوادوالو ته وړاندې شوي:

| خدمات | ارقام |
|---|---|
| سر اپا خدمات | اووه اتیا میلونه دوه لکه درې پنځوس زره نهه سوه څلور نوي ( 87253994 ) |
| داخل بستر خدمات | دوه میلونه اوویا زره یو څلوېښت (2070041) |
| لوی جراحي عملیاتونه | دوه لکه پنځه څلوېښت زره څلور سوه ( 245400) |
| کوچني عملیاتونه | څلور لکه اووه زره پنځه سوه اووه ویشت ( 407527) |
| د هیموډیالیز، فیستولا، او د کتیټر خدمتونه | درې شپیته زره نهه سوه اوه اتیا (۶۳۹۸۷) |
| د ICU خدمات | شپږ زره پنځه سوه شپږ شپیته ( ۶۵۶۶ ) |
| زېږون | یو میلون دوه لکه اته پنځوس زره پنځلس (1258015) |
| تشخیصیه خدمات | نهه میلونه څلور لکه نهه اتیا زره یو سل یوولس ( 9489111) |
| د امبولانس خدمات | د عامې روغتیا وزارت د ۷۲۶ امبولانسونو په توسط په مرکز او ولایاتو کې یو لک پنځلس زره درې سوه اووه ویشت ( 115327) ناروغان انتقال کړي |
| فزیوتراپي او فزیکي بیا رغونه | پنځه دیرش زره (۳۵۰۰۰) |
| د سترګې اړوند خدمات | سر اپا خدمات : یو لک پنځه ویشت زره اته سوه پنځه ویشت ( ۱۲۵۸۲۵ )<br>عملیاتونه: پنځه زره اته اویا (۵۰۷۸)<br>عینکې : نهه زره اته سوه شپږ پنځوس (9856) |
| د روږدو درملنه | شپږ څلوېښت زره اوه سوه شپږ دیرش ( ۴۶۷۳۶ ) |
| د سرطان ناروغانو درملنه | درې څلوېښت زره نهه سوه اولس ( ۴۳۹۱۷ ) |

دوام...

- ● - ټول کال د نږدې دوه اعشاریه دوه میلونه په متوسطې او شدیدې خوارځواکۍ اخته مېندو او کوچنیانو درملنه تر سره شوې او سیستم کې داخل شوي دي.
- ● - نږدې ۳۶۰۰ معلولینو ته د کومکي قالبونو ، مصنوعي غړو او ویلچرونو وېش تر سره شوی دی.
- ● - کوچیانو ته د ګرځنده روغتیا یي تیمونو له لارې یو میلون یو لک دوه ویشت زره اووه سوه نولس ( ۱۱۲۲۷۱۹ ) سراپا، ولادي، واکسین، سوء تغذیه، توبرکلوز او د سلي ناروغیو اړوند خدمات وړاندې شوي دي .
- ● - مهاجرینو او بېرته‌را ستندیونکو هېوادوالو ته یو لک اته پنځوس زره ( ۱۵۸۰۰۰ ) سراپا خدمات او ۱۱ زره د مېندو اړوند خدمات وړاندې شوي دي.
- ● - د عدلي طب برخه کې ۶۷۱ حیاتي او ۹۱۷ فوتي واقعاتو اړوند خدمات وړاندې شوي دي.
- ● - ټول کال نږدې ۱۵۰۰ ماشومان چې له مختلفو روغتیایي ستونزو سره مخ وو، د لا ښې درملنې په موخه ځانګړو روغتیایي مراکزو ته معرفي شوي دي.

## عامه پوهاوی

د ناروغیو پر وړاندې د عامه پوهاوي تر سره کولو ، د روغتیا اړوند معلوماتو خپرولو ، او د ټولنې وګړو سره علمي او روغتیایي معلوماتو شریکولو په موخه ټول کال له بېلا بېلو لارو ګټه اخیستل شوې ده، چې په نتیجه کې څوارلس سوه اته شپېته

( ۱۴۶۸) ویډیویي کلیپونه ،یو لک اته څلوېښت زره یو سل یو اویا (۱۴۸۱۷۱) تنو ته روغتیایي تعلیمات، پنځه اعشاریه اووه ملیونه چاپي روغتیایي معلومات او د عامه پوهاوي بروشرونه ویشل شوي دي، همدارنګه ۶ مجلې او ژورنالونه چاپ شوي او دیارلس زره یو سل شپږ اتیا (۱۳۱۸۶) معلوماتي پوسټونه له بېلا بېلو لارو شریک شوي دي، چې د پیغام د لا ښه‌رسولو په موخه د عامه پوهاوي او ناروغیو اړوند ۲۸۰ غونډې او رسنیز کنفرانسونه هم تر سره شوي دي.

## د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کیفیت کنټرول

- ●- د درملو، خوړو او څښاک اوبو د یو اویا زره اوه سوه دوه اویا (۷۱،۷۷۲) څخه‌زیاتو نمونو د کیفیت کنټرول، چې له دې جملې څخه ۹۲۸ نمونې منفي وې او څلور زره یو سل اته اتیا ( ۴،۱۸۸ ) نمونې د مختلفو دلایلو له کبله مسترد شوې.
- ●- د درملو، خوړو او اوبو د لابراتوار برخه کې د مختلفو نمونو لپاره ۵۲ جلد معیاري کړنلارې ترتیب شوي دي
- ●- ټول کال په مرکز او ولایاتو کې (۱۰۷۷) ټنه بې کیفیته او تاریخ تېري خوراکي او درملیز توکي له منځه وړل شوي چې ۵۱۸ ټنه په مرکز او ۵۵۹ ولایاتو کې هدر شوي دي.

## د درملو، روغتیایي محصولاتو او خوړو د صادراتو او وارداتو تنظیم کول

- ●- په ټول کال کې، د درملو دوه پنځوس زره څلور سوه نهه‌ویشت ( ۵۲،۴۲۹ ) توکي او د روغتیایي محصولاتو پنځه زره پنځه سوه نهه‌ویشت (۵،۵۲۹) توکي چې ارزښت یې نږدې یو سل نهه څلوېښت (۱۴۹) میلونه ډالر وارد شوي دي.

په ټول کال کې د وارد شویو خوراکي توکو نولس زره څلور سوه شپږ دیرش (۱۹.۴۳۶) محمولو ته بازار ته د وړاندې کولو اجازه ورکړل شوې.

## د داخلي توليداتو څخه ملاتړ

● - د کورني توليد ملاتړ لپاره، په هيواد کې دننه د کورنيو او بهرنيو ادارو سره تړونونه شوي دي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې هغه درمل او طبي محصولات چې دوی ورته اړتيا لري د کورني توليد او کورني بازار څخه ترممکنه حده ترلاسه کړي، څکه چې د درملو، روغتيايي محصولاتو او خوراکي توکو د قاچاق مخنيوي قانون هم پدې اړه واضح دی.

● - د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو معينيت، د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمان سره سم، اراده لري چې په ميربچه کوټ ولسوالی کې يوولس سوه شپاړلس (۱۱۱۶) جريبه ځمکه د درملو د توليد داخلي فابريکو ته ځانګړې کړي.

## له خصوصي سکتور ملاتړ او پراختيا

● - دا چې په ټول هېواد کې د روغتيايي مراکزو په ايجاد کې د پام وړ اسانتياوې را منځته شوې دي اوس مهال په مرکز او ولاياتو کې دراجستر شويو خصوصي روغتيايي مرکزونو شمير درې زره پنځه سوه شپږ ويشت (۳۵۲۶) ته رسيږي چې يوازې تېر کال ۳۸۲ خصوصي روغتيايي مرکزونو جوازونه ترلاسه کړي او په فعاليت يې پيل کړی، چې په همدې خصوصي روغتيايي مرکزونو کې د هېواد نږدې اوه څلويښت زره ( 47,000) مسلکي او پنځه ويشت زره (25,000 ) غير مسلکي کارمندانو ته د کار او خدمت زمينه برابره شوې.

## نظارت، ارزونه او روغتيايي معلومات:

● - د تېر کال په جريان کې د خصوصي روغتيايي مرکزونو لپاره د نظارت چکليستونه نوي شول او د ۵ رياستونو په شمول د ګډ نظارت ترسره کولو پروسه شروع شوه.

● - د عامې روغتيا وزارت د بېلا بېلو رياستونو مسؤلينو له لوري په خپل اړوند مسؤليت کې له پروژو .

درمليزو تاسيساتو ، غذايي تاسيساتو ، اشتهاراتو، تشخيصيه مرکزونو، اصنافو ، مراکزو روغتيايي مرکزونو، ښوونيزو انتنونو ، دولتي خصوصي او د تطبيق کوونکو مؤسساتو له مراکزو څخه په جمعي توګه اووه شپيته زره دوه سوه يو ويشت (۶۷۲۲۱) نظارتونه تر سره شوي دي.

نظارت په برياليتوب ترسره شو او ، کتلوي معافيت او فرعي پروژوBPHS، EPHS په ۳۴ ولايتونو کې د دولتي روغتيايي خدماتو راپورونه د تطبيق کوونکو موسسو، تمويل کوونکو ادارو، ولايتي عامې روغتيا رياستونو او د عامی روغتيا وزارت اړونده رياستونو سره شريک شوي.

# سفرونه:



د عامې روغتيا وزارت رهبرۍ او تخنيکي استازو په تېر کال کې ۴۰ رسمي سفرونه بهرنيو هيوادونو ته تر سره کړي دي، چې ياد سفرونه جاپان، ازبکستان، ماليزيا، سويس، قطر، ايران، پاکستان او تايلينډ هيوادونو ته تر سره شوي دي، د دې سفرونو موخه د روغتيا په برخه کې همغږي، همکاري، د ساري ناروغيو کنټرول، ظرفيت لوړونه او د نړيوالې ټولنې د روغتيا په برخه کې همکارۍ ته هڅونه وه.

## راتلونکي پلانونه:

- د عامې روغتيا وزارت لپاره د ملي ستراتيژۍ جوړول.
- د روغتيايي کڅوړو BPHS او EPHS بيا کتنه او مدغم والی تر سره کول.
- دولسوالۍ په کچه د خدماتو پراخوالی او تقويه کول.
- د بهرنيو پيښو پر مهال د خدماتو لپاره پر لويو لارو د تروما سنټرونو جوړول.
- د دولتي روغتونو د ريفورم او اصلاح برنامو عملي کول.
- د سرطاني ناروغانو اړوند د شته خدماتو پراخوالی.
- د خصوصي سکتور د خدماتو اصلاح او اعتبار ورکونه تر څو خدمات معياري او بيې مناسبې شي.
- د تخصصي او فوق تخصصي برنامو ايجاد، پراختيا او له نړيوالو ادارو سره همغږي.
- د ساري او غير ساري ناروغيو کنټرول او د پوليو ناروغۍ محوه کولو لپاره کار.
- د غوره او با کيفيته درملو دوراندې کولو او توليد لپاره له داخلي توليداتو ملاتړ او د واردېدونکو درملو د کيفيت کنټرول.

# نبوي لارښووني



۱ـ له عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: د دوو نعمتونو په اړه خلک له زیان او ضرر سره مخامخ دي (یعنی خلک له هغو دوه نعمتونو څخه سمه ګټه نه اخلي) اول روغتیا او دوهم فارغ وخت. (رواه البخاري)

۲ـرسول الله ﷺ فرمایلي دي: څوک چې د خپل ورور د حاجت (اړتیا) پوره کولو په هڅه کې وي؛ نوالله تعالی د ده د اړتیا په پوره کولو کې وي، او څوک چې له یو مسلمان څخه تکلیف او اندېښنه لرې کړي؛ نو الله تعالی به د هغه څخه د دې په سبب د قیامت د ورځې له تکلیفونو او اندېښنو څخه یو تکلیف او اندېښنه لرې کړي . (صحیح البخاري )

۳ـ رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

الله ﷻ له هغه بنده څخه راضي کېږي چې د خوړلو او څښلو وروسته «الحمدالله» ووایي . (صحیح مسلم)

۴ـرسول الله ﷺ فرمایلي دي:

الله تعالی ته تر ټولو خوښ عملونو کې یو عمل دا دی؛ چې مسلمان ته خوشحالي ورکړې، یا ترې غم او سختي لرې کړې، یا ترې لوږه وشړې او یا ترې قرض ادا کړې. (صحیح الجامع)

۵ـرسول الله ﷺ فرمایلي دي:

لاندې څلور اعمال د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام سنت دي؛

۱ .حیاء کول ۲ .عطر لګول ۳ .مسواک وهل ۴ .نکاح کول (رواه ترمذي)

# خواړه

## د کیلي خوراک د لسو ناروغیو درملنه کې مرسته کوي!



۱. د معدې دزخم مخنیوی کوي

۲. د معدې سوزش کموي

۳. د بدن وینه پوره کوي

۴. دژور خفګان مخنیوی کوي

۵. د ویني فشار نورمال ساتي

٦. د بدن انرژي پوره کوي

۷. د سترګو ناروغۍ درملنه کوي

۸. ذهني کمزوري ختموي

۹. د هډوکو د کمزورۍ درملنه کوي

۱۰. د کولمو ناروغۍ کموي

## پودینه او روغتیایي ګټې یې:

۱. پودینه معدې ته آرام ور کوي، ګازونه، تیزابیت او بد هضم له منځه وړي.

۲. د پوزې بندښت، ټوخي او ساه بندۍ لپاره ډېر ګټوره تمامېږي.

۳. بد بوی لرې کوي او خوله خوشبویه کوي .

۴. پودینه د طبیعي درد ضد خاصیت لري او د سر درد په کمولو کې مرسته کوي.

۵. د پودینې اوبه یا ماسک د پوستکي دانې او تیل لرې کوي.

٦. پودینه ذهن ته آرامتیا ور کوي، د ذهني فشار ضد ده.

۸. د پودینې چای د معدې دردونه او سوخت آراموي.

۸: پودینه اشتها کنټرولوي او د وزن کمښت سره مرسته کوي.



## مستې:



۱. مستې زیات مغزي مواد لري او د کلسیم ښه منبع ده.

۲. مستې د غذا په هضم کې ښه رول لري.

۳. مستې د بدن دفاعي سیستم پیاوړی کوي.

۴. د بدن د وزن په کمولو کې رول لري.

۵. د وینې د لوړ فشار مخنیوی کوي.

٦. مستې د وینې غوړ کموي.


۷. د لویو کولمو د سرطان له اخته کیدو څخه مخنیوی کوي.

۸. مستې د هډوکو په پیاوړتیا کې رول لري .

۹. د ویښتو په سالم ساتلو کې مرسته کوي.

۱۰. هغه ناروغان چې د زړه په ناروغیو اخته دي مستې خوړل ورته زیات ګټور دي.

## کاجو او روغتیایي ګټې یې!



کاجو یو مغذي او ګټوره وچه مېوه ده چې ډېر مهم منرالونه لري، په کاجو کې کلسیم، مګنیزیم او فاسفورس شته چې د هډوکو د پیاوړتیا لپاره ضروري دي، زینک او مس په کې د پوستکي صفا والي او ویښتو روغتیا ته مرسته کوي، کاجو د زړه د سلامتیا لپاره هم ګټور دی ځکه ښه غوړي لري، په کاجو کې پروټین او فایبر شته چې د بدن انرژي لوړوي، ویټامین E په کاجو کې د پوستکي ځوان ساتلو کې مهم رول لري، د ورځې لږ مقدار کاجو خوړل بدن ته تر ډېره حده ګټه رسوي.

# اختلالات تایراید در جریان حامله گی (Thyroid disease in pregnancy)

رنځوروال ډاکتر حفیظه عمرخېل
ترینر متخصص بخش نسایی ولادی

اختلالات تایراید شایع ترین اختلالات غدوات اندوکراین در دوران حاملگی است. این مســـئله از دو نظر اختلاف نظریه است. اول این که تغییرات وابسته به حاملگی در فیزیولوژی تایراید، تشخیص اختلالات تایرایدرا با مشکل مواجه می سازد و دیگر این که مقدار دواهای که برای تداوی مادر و جنین قابل استفاده است، محدود است. ارزیابی برای اختلالات کلینیکی تایراید هنوز به عنوان موضوعی بحث برانگیز باقی مانده است.

پنج نوع مریضی تایراید وجود دارد که هر کدام علائم خاص خودرا دارند. یک فرد ممکن است یک یا چند نوع مختلف امراض را به طور همزمان داشته باشد. این پنج گروه عبارتند از:

کم کاری تایراید (فعالیت کم) ناشی از کمبود هورمون های تایراید آزاد. پرکاری تایراید (فعالیت بالا) ناشی از داشتن بیش از حد هورمون های آزاد تایراید .ابنارملتی های ساختاری، معمولاً گواتر (بزرگ شدن غده تایراید)تومورهایی که می توانند خوش خیم (غیر سرطانی) یا سرطانی باشند.

تست های غیر طبیعی فعالیت تایراید بدون هیچ گونه علائم کلینیکی (کم کاری تایراید کلینیکی یا پرکاری تایراید کلینیکی).



ادامه!

## فعالیت تایراید در حاملگی نارمل

نقش غده تایراید، تنظیم حرارت و متابولیک است که در هفته سوم حاملگی از اولین (pharyngeal arch) به وجود می آید. سپس به ناحیه گردن مهاجرت کرده و در هفته های ۱۰ تا ۱۲ حاملگی، شروع به تولید هورمون های تایرایدی می کند.

فیزیولوژی تایراید مادر طی حاملگی عادی مصـــــــاب تغییراتی همچون هایپرپلازی گرانولار و بزرگی غده تایراید می شود. در معاینه با التراسوئد، افزایش حجم غده مشخص می شود اما (echo structure) بدون تغییر باقی می ماند. میزان فلتریشن گلومرولی کلیه به طور عادی افزایش می یابد و این موضوع سبب می شود که کلیرانس آیودین ادرار افزایش یابد. بنابراین برای ساخته شدن هورمون های تایرایدی و ثابت نگه داشتن غلظت أنها لازم است میزان آیودین دریافتی افزایش پیدا کند سطح خونی (T4) و (T3) هر دو افزایش پیدا می کند زیرا سطح پروتئین حمل کننده آنها یعنی TBG افزایش می یابد.

استروجن باعث می شود تولید TBG افزایش دریافت و کلیرانس آن کم شود از آنجا که واحدهای گنادوتروپین پلاسنتایی و تیروتروپین هورمون محرکه تایراید یا (TSH) با هم مشابه است (crossover) بین این دو می تواند منجر به افزایش (T4) آزاد در سه ماهه اول شود در زمان پیک (CG)، سطح TSH در پایینترین و سطح آیودین آزاد در بالاترین حد خود است .

افزایش T آزاد TSH را ساپرس کرده و باعث می شود TRH در مادر به مقدار ناچیزی بالا رود به طور کامل نیاز به T در حدود ۱ تا ۳ فیصـــد بالای نیاز روزانه خانم های غیر حامله افزایش می یابد این افزایش نیاز در اوایل حاملگی شروع شده و در هفته های ۲۰-۱۶- به سطح میزان پلاتو می‌رسد. این تغییرات فیزیولوژیک، نارمل تشخیص مریضی تایراید در دوران حاملگی‌را با مشکل مواجه می سازد مطالعات انجام شده بر روی مدل های حیوانی به روشن شدن نقش T مادر جنین کمک می کند.

مشــــــخص شده است که در صورتی که T مادر کم باشد با وجود سطح نارمل I, سیروم مادر و جنین میزان مغز جنین کم خواهد بود. این دریافت ثابت می کند که صحت مادر و مغز جنین هر دو به T مادر وابسته است .

غلظت T در جنین در اواسط حاملگی ۳۴ برابربالغین است این مقدار بسیار بیشتر از آن چیزی است که با توجه به سطوح پایین سیروم جنین انتظار می‌رفت شروع رشد مغز جنین در اواسط حاملگی صورت می گیرد و دریافت های حیوانی حاکی از آن است که هورمون های تایرایدی مورد نیاز برای این مرحله تأمین می شوند با پایان یافتن سه ماهه اول محور پوتالاموس -هیپوفیز - تایراید جنین فعال می شود در هفته ۱۴، حاملگی T تولیدی جنین قابل اندازه گیری. می شود . نارمل بودن سطح هورمون های تایرایدی برای بلوغ مغز ورشد فکری در جنین و نوزاد حیاتی است.



ادامه!

## نکات کلیدی

## (Hyperthyroidism)

بالارفتن سطح آزاد T3-T4 ساپرس شدن سطح TSH علائم و نشـــانه های هایپرتایرایدی شامل عدم تحمل ، گرمی خستگی، اضطراب، تعرق، تاکی کاردی و فشار نبض وسیع (بالا)

# علت:

علل مختلفی برای پرکاری تایراید وجود دارد. اغلب، غده بیش از حد هورمون تایـراید تولید مـی کند. به ندرت، یک نودل منفرد مســـئول ترشح بیش از حد هورمون است که ندول "گرم" نامیده می شود. تایرایدیت (التهاب تایراید) نیز می تواند باعث پرکاری تایراید شود. نسج فعال تایراید تولید بیش از حد هورمون تایراید در تعدادی از شرایط خاص رخ می دهد.

**دریافت های کلینیکی:**

همه علائم هایپرتایراید ممکن است در حاملگی نارمل مشـــاهده شود. این علائم شامل عدم تحمل ،گرمی ، خســـتگی ،اضطراب، تعرق تاکی کاردی و فشـــار نبض وسیع (بالا) است علائم اختصـــاصی هایپرتایرایدی ضربان بیشتر از ۱۰۰ bpm گواتر و اگزوفتالمی است اما این علائم ممکن است وجود نداشته باشند نشانه های هاضمی مثل تهوع، استفراغ شدید نیز ممکن است وجود داشته باشند اما این ها می تواند به علت بالا بودن BHCG باشد، تست های لابراتواری بالا بودن سطح T,، آزاد T و T 4 آزاد و TSH ساپرس یا بسیار کم را ثابت می کند در تعداد قابل توجهی از مریضـــــان تیتر TSAb افزایش پیدا می کند آنمی نورمو کرومیک نورموسیتیک نوتروپنی خفیف و افزایش آنزیم های کبدی از دیگر دریافت های لابراتواری هستند.

هایپرتایرایدیســـم کلینیکی شرایطی که از ساپرس شدن TSH و نارمل بودن T و نارمل بودنT 4 و T3, ناشی می شود نیز در حاملگی دیده می شود. مشخص شده است که ۱/۷٪ از زنان ارزیابی شده مریضی کلینیکی دارند. هایپرتایرایدی کلینیکی تأثیری بـر روی حاملگـی نمـی گذارد، بنا بـراین هیچ گونه ارزیابـی و تداوی بـرای این وضعیت ضروری نمی باشد.

ادامه!

عوارض بالقوه دیگر دواهای ضد ،تایراید ،خارش راش جلدی، تب درد مفاصل، یرقان، انســـدادی سندرم شبه لوپوس و پولی آرتریت مهاجر هستند لکوپنی ممکن است از عوارض دوایی باشد اما در مریضی گریوز تداوی نشده نیز دیده می شود.

بنا براین پیش از شروع تداوی باید یک شمارش WBC گرفته شود. آگرانولوسیتوزیس شدیدترین عارضه است. اما خوش بختانه این عارضه ناشایع است و تنها در ۰/۱٪ از مریضان مشاهده می شود. ترجیح داده می شود که تداوی پیش از حاملگی صـــورت بگیرد تا در طی، آن چراکه نتیجه آن بهتر خواهند بود. اخیراً متی مازول به دوای انتخابی هایپرتایرایدی در حاملگی تبدیل شده است این مسئله به دلیل آسیب کبدی غیرقابل برگشت است که (PTU) ایجاد می کند و می تواند منجر به نارسایی کبدی شود.

در موارد شدید می توان برای تخفیف علائم از بتا بلاکرها (۲۰-۴۰) میلی گرم پروپرانولول هر ۸-٦ ساعت استفاده کرد؛ اما فقط برای یک مدت کوتاه چند هفته و قبل از هفته های ۳۴-۳٦ حاملگی آنها از تبدیل T3 به T4 جلوگیری می کنند اما اگر به مدت طولانی مصرف شوند ممکن است منجر به محدودیت رشد داخل رحمی و هیپوگلیسمی شوند.

تداوی طوفان ،تایرایدی کمک به کاهش سنتز هورمون تایرایید ، به حداقل رساندن ترشح هورمون از غده تایراید و بلاک اثرات محیطی هورمون تایراید است، تداوی تهاجمی طوفان تایرایدی برای بقای مریض ضروری است. (PTU) یا متی مازول سریعاً شروع می شوند و اگر مریض هوشیار باشد می توان به آنها تیوب نازوگاستریک تجویز کرد محلول I مثل (SSKI) یا محلول لوگول را نیز می توان داد. محلول I از ترشح هورمون تایرایدی جلوگیری می کند در صورتی که مریض سابقه حساسیت به I داشته باشد به جای ،آن لیتیم کربنات داده می شود،(Hydration) مایعات و حمایت تغذیه های بسیار اهمیت دارد .

برای تخفیف علائمی همچون تاکی کاردی و ضربان شدید قلب می توان از بتا بلاکرها استفاده کرد؛ آنها همچنین تبدیل محیطی به T4 را نیز مهار می کنند در موارد شدید برای کاهش تبدیل محیطی به T3 از گلوکوکورتیکوئیدها استفاده می شود. از مصرف آسپرین در این مریضان باید خود داری شود چراکه می تواند غلظت T آزاد و T3 را افزایش دهد، به طور آینده جنین و مادر هایپرتایرایدی ای که به خوبی کنترول شده باشد بسیار خوب است .

## تأثیرات هایپرتایراید در حاملگی

عوارض بالقوه هایپرتایرایدیسم در مادر شامل سقط خود به خودی، فشارخون، حاملگی ولادت پیش از موعد، انمی افزایش استعداد ابتلا به، انتان جدا شدن پلاسنتا است.

در موارد شدید و تداوی نشـــده عوارضی همچون آریتمی قلبی نارسایی احتقانی قلب و طوفان تایرایدی دیده می شود. عوارض احتمالی در جنین شامل هایپرتایراید جنین یا نوزاد محدودیت رشد داخل رحمی، aIUFD جننین نابالغ و موربیدیتی های وابسته به دواها است. بیشتر عوارض مادری و جنینی در مواردی دیده می شود که هایپرتایرایدی به خوبی کنترول یا تداوی نشده است.

# ولایتي سفرونه

**فراه ولایت ته د عامې روغتیا محترم وزیر، سفر:**

د ۱.۱.۱. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي فراه ولایت ته د سفر پر مهال د فراه له والي مولوي غوث الدین رهبر، د علماوو شورا له رئیس شیخ محمد امین روحاني او د عامې روغتیا له مرستیال مولوي دین محمد سره په دغه ولایت کې د روغتیایي ستونزو د حل په موخه ناسته ترسره کړه.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د هېواد ټولو ولسونو ته په مساویانه او معیاري توګه د روغتیایي خدماتو رسول د روغتیا وزارت دنده وبلله او په همدې موخه یې د یاد ولایت په ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو جوړېدو، روغتیایي برخې پراختیا او دې برخې کې د اسانتیاوو رامنځته کېدو ډاډ ورکړ.

ورته مهال د عامې روغتیا وزیر، فراه ولایت ته د سفر په ترځ کې د ولایتي روغتون څخه نظارت ترسره کړ.

په دغه نظارت کې چې د مل تخنیکي پلاوي په ملتیا ترسره شو، د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د یاد روغتون ټولو څانګو څخه لیدنه وکړه، ستونزې یې په نښه او د بشپړ حل ډاډ یې څرګند کړ.

د عامې روغتیا وزیر همدااراز، روغتیایي کارکوونکو ته د خپلې وینا په ترځ کې په دغه ولایت کې د ولسوالیو کچې عمومي روغتونونو جوړېدو، روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړولو او د روغتیایي خدماتو پراخېدو ډاډ ورکړ او له هغوی یې وغوښتل، چې شته امکاناتو څخه په پوره ګټې اخیستنې ناروغانو ته معیاري خدمات وړاندې او غوره درملنه یې وکړي.



## کندهار ولایت ته د عامې روغتیا محترم وزیر سفر

د ۱.۱.۱. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي او ورسره مل پلاوي کندهار ته د سفر پر مهال د یادولایت عامې روغتیا رئیس، ډاکټر محمد گل عثمان په شتون کې له روغتیايي مسؤلینو سره ناسته ترسره کړه

دغه ناسته دروغتیايي خدمتونو ارزونې په موخه ترسره شوه، چې په کې د کندهار عامې روغتیا ریاست مسؤلینو له لوري دروغتیايي خدمتونو اړوند معلومات وړاندې او په دې برخه کې د شته ستونزو او ننګونو د حل اړوند غوښتنې مطرح شوې

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د شته ستونزو او ننګونو د حل ډاډ تر څنګ مل تخنیکي ټیم ته دنده وسپارله، چې د یادولایت د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو سره په ګډه موجوده ستونزو ته رسېدنه ترسره او دروغتیايي سیستم د پیاوړتیا لپاره هڅې وکړي

د عامې روغتیا وزیر سره مل تخنیکي ټیم دغه راز کندهار ته د سفر پر مهال د سپین بولدک ولسوالۍ روغتون او تخته پل جامع روغتیايي مرکز څخه نظارت ترسره کړ

دا چې د سپین بولدک ولسوالۍ روغتون نوي جوړ شوي تعمیر ته انتقال شوی وو، په همدې موخه یې دروغتیايي خدماتو څخه ارزونه ترسره او د نظارتي ټیم له لوري یې مسؤلینو سره د بسترونو تنظیم او دروغتون غوره مدیریت اړوند نظرونه شریک شول، ستونزې یادښت او د حل ډاډ ورکړل شو

په یاد نظارت کې همدا راز روغتیايي کارکوونکو ته د معیاري روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو په موخه لازمې سپارښتنې ترسره شوې او هم یې ددغه سفر پر مهال د میرویس سیمه ییز او عینو مېنې ۳۵۰ بستریز ولایتي روغتونونو څخه لیدنې ترسره کړې

په دغو لیدنو کې د نظارتي ټیم مسؤلینو د یادو روغتونونو د بېلا بېلو څانګو ناروغانو احوال واخیست، د هغوی دروغتیا هیله یې څرګنده او روغتیا پالانو ته یې د غوره روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو اړوند لازمې سپارښتنې وکړې

د نظارتي ټیم مسؤلینو همدا راز د یادو روغتونونو شته ستونزې یادښت او اړوندو مسؤلینو ته یې د بشپړ حل ډاډ ورکړ؛ تر څو د وزارت په کچه په یاده برخه کار ترسره او موجوده ستونزې حل شي.

# نیمروز ولایت ته د عامې روغتیا محترم وزیر سفر

د ا.ا.ا. د عامې روغتیا وزیر، ښـــاغلي مولوي نور جلال جلالي نیمروز ولایت ته د خپل ســــفر پر مهال د نږدې ۱۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د دې ولایت د نوي جوړ شوي ولایتي سل بستریز روغتون پرانیسته ترسره کړه

په همدې موخه جوړو شـــویو مراســـموکې د عامې روغتیا وزیر، ښـــاغلي مولوي نورجلال جلالي، د اطلاعاتو او کلتوروزیر ملا خیرالله خیرخواه، د نیمروزوالي شیخ محمد قاسم خالد د هلمندوالي الحاج مولوي عبدالرحمن مســـلم کنزي، د نیمروز عامې روغتیا رئیس ملا عبدالرحمن عبدالله، دولتي مسؤولینو او ځایي اوسېدونکو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د یادروغتون د پرانیســـتې پر مهال ولســـونو ته په نیمروز کې د دې سترې پروژې د بشــــپړېدو مبارکي وړاندې کړه او دا یې د افغانســـتان اسلامي امارت لهٔ راتګ وروسته د نیمروز ولســـونو ته د روغتیا په برخه کې یوه ستره لاسته راوړنه وبلله

ښاغلي وزیر زیاته کړه، نیمروز ولایت پنځه ولسوالۍ لري، چې په هر یوې کې به په نږدې کې د یو عمومي روغتون د جوړېدو چارې پیل شي هغه دغه راز د هېواد هر وګړي ته د معیاري روغتیایي خدماتو رسول خپل لمړیتوب وګانه او په دې برخه کې یې د اسلامي امارت د رهبرۍ د زیاتې پاملرنې او مهربانۍ یادونه وکړه.






## میدان وردگ ولایت ته د عامې روغتیا محترم وزیر

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي میدان وردگ ولایت ته د سفر پر مهال د مل تخنیکي ټیم په ملتیا له ولایتي روغتون څخه لیدنه ترسره کړه.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د یاد روغتون له خدمتونو څخه د لیدنې سربېره د روغتیایي مسؤلینو ستونزې واورېدې او مل تخنیکي ټیم ته یې دنده وسپارله، چې د روغتیایي خدمتونو له ارزونې وروسته راپور د وزارت له رهبرۍ سره شریک کړي؛ ترڅو د یاد روغتون شته ستونزې حل شي.

## هلمند ولایت ته د عامې روغتیا محترم وزیر سفر

د ا.ا.ا. د عامې روغتیا وزارت نظارتي ټیم د هلمند بُســــــــت ولایتي روغتون او د دې ولایت له یو شمېر نورو روغتیایي مرکزونو له خدمتونو څخه نظارت ترسره کړ.

یاد نظارت چې د یو ځانګړي تخنیکي ټیم له لوري د شــپې ناوخته ترســره شــو، د ولایتي روغتون له ټولو څانګو څخه په کې کتنه وشوه، ستونزې یې یادښت او مسؤلینو ته یې لازمې سپارښتنې وشوې.

د یادونې وړ ده، چې د عامې روغتیا وزارت رهبرۍ په ځانګړې سپارښــتنه په دا وروســتیو کې د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې د نظارت پروسه دوام لري، چې موخه یې د روغتیایي خدماتو ستونزې په نښــه کول او د روغتیایي سیستم د ښه والي لپاره هڅې ترسره کول دي؛ ترڅو ټولو ناروغانو ته معیاري خدمتونه وړاندې شي.

د عامې روغتیا وزیر، دغه راز مل تخنیکي پلاوي سره په ګډه د ګرشک ولســـوالۍ روغتون څخه نظارت ترسره کړه.

په دغه نظارت کې چې د هلمند عامې روغتیا رئیس، مولوي فضــــلي احمد شفیع الله یې هم ملتیا کوله د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د یاد روغتون ټولو څانګو څخه لیدنه وکړه، ستونزې یې په نښه او د حل لارې یې څرګند کړې.

ښاغلي وزیر همداراز، د ناروغانو احوال له نږدې واخیست، د هغوی د روغتیا هیله یې څرګنده او له روغتیا پالانو یې وغوښتل، چې شته امکاناتو څخه په پوره ګټې اخیســتنې ناروغانو ته معیاري خدمات وړاندې او غوره درملنه یې وکړي.

## هلمند ولايت ته د عامې روغتيا وزير سفر

د ۱.۱.۱. د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي هلمند ولايت ته د خپل سفر پر مهال د دې ولايت سنگين ولسوالۍ کې د نږدې شپږ ويشت ميليونه افغانيو په ارزښت د يو، نوي جوړ شوي بشپړ جامع روغتيايي مرکز پرانيسته ترسره کړه.

په همدې موخه جوړو شويو مراسمو کې د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د هلمند ولايت والي الحاج مولوي عبدالرحمن مسلم، د هلمند ولايت د عامې روغتيا رئيس مولوي شفيع الله او ځايي اوسېدونکو گډون کړی و.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د هلمند ولايت سنگين ولسوالۍ کې په ياد جوړ شوي روغتيايي مرکز خوښي وښوده او د سنگين ولسوالۍ اوسېدونکو ته يې د روغتيايي خدمتونو په برخه کې لويه لاسته راوړنه وبلله.

ښاغلي وزير، ياد روغتيايي مرکز ته په اشارې وويل ، هڅه کوو د هېواد هر گوټ ته معياري خدمات برابر او د ولسونو اړتياوو ته په اساسي شکل کار تر سره کړو.

د يادونې وړ ده، چې د عامې روغتيا وزارت له لوري د هېواد په بېلا بېلو سيمو کې د روغتيايي سيستم په انکشاف او پراختيا گړندۍ هڅې جريان لري، چې په راتلونکي کې به د يو ځان بسيا او معياري روغتيايي سيستم لپاره مرستندوی اوسي.

**د ۱.۱.۱. د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي هلمند ولايت ته د خپل سفر** پر مهال په دې ولايت کې په روغتيايي خدماتو کې د شته ستونزو د حل، د روغتيايي خدماتو د ارزونې او د روغتيايي خدماتو د پراختيا او ښه والي په موخه د دې ولايت له روغتيايي مسؤلينو او روغتيا پالانو سره ناسته تر سره کړه

په دې ناسته کې چې د هلمند والي، مولوي عبدالرحمن مسلم او د عامې روغتيا رئيس مولوي شفيع الله هم شتون درلود روغتيايي مسؤلينو او روغتيا پالانو د هلمند ولايت د روغتيايي خدماتو او وضعيت اړوند مفصل معلومات وړاندې او په روغتيايي خدماتو کې شته ستونزې او وړانديزونه يې شريک کړل.

ښاغلي وزير، د يادو ستونزو له اورېدو وروسته د حل ډاډ ورکړ او د خپلو خبرو په جريان کې يې مسؤلينو ته د لازياتو هڅو هدايت ورکړ؛ تر څو په لازياتو هڅو سره د هلمند ولايت ولسونو ته غوره روغتيايي خدمات وړاندې شي.




د ا.ا.ا. د عامې روغتيا وزارت روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او ورسره مل پلاوي لغمان ولايت ته د سفر په لړ کې چې موخه يې د روغتيايي خدمتونو ارزول دي، د ياد ولايت له والي، مولوي شير احمد حقاني سره وکتل.

په دې ليدنه کې د لغمان اوسېدونکو ته په غوره روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو، د لرې پرتو سيمو اوسېدونکو ته د روغتيايي خدماتو پر رسولو، د روغتيا برخه کې د ستونزو په نښه کولو او ورته د حل لارو اړوند بحث او خبرې ترسره شوې.

د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال او ورسره مل پلاوي لغمان ولايت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د الينگار، عليشنگ او دولت شاه ولسواليو له روغتونونو او روغتيايي مرکزونو څخه د خدمتونو د ارزونې په موخه ليدنې ترسره کړې.

په دې ليدنو کې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو بهير کې شته نيمګړتياوې په نښه او د حل په موخه يې روغتيايي کارکوونکو ته د سپارښتنو سربېره د معياري خدمتونو پر وړاندې کولو ټينګار وکړ.

ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او ورسره مل پلاوي دغه راز په ياد ولايت کې  د يونيسيف او تطبيق کوونکې مؤسسې له مسئولينو سره ناسته ترسره کړه.

کې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال د يونيسيف او تطبيق کوونکې مؤسسې مسئولينو ته  په دې ناسته سپارښتنې وکړې، چې شته ستونزو ته رسېدنه ترسره او د روغتيايي خدمتونو بهير کې اسانتياوې رامنځته کړي.

نوموړي دغه راز، د تطبيق کوونکو مؤسسو له استازو وغوښتل، چې ورسپارل شوي مسئوليتونه په سمه توګه ترسره، په چارو کې روڼتيا رامنځته او د درملو، طبي وسايلو او ژمنيو توکو په رسولو کې خپل مسئوليتونه پر وخت ترسره کړي.

بل لور د يونيسف او تطبيق کوونکې مؤسسې استازو د خپلو فعاليتونو شريکولو سربېره د شته ستونزو د ژر حل ډاډ ورکړ.

## ننګرهار ولایت ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال سفر

۱.۱.۱. د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او ورسره مل پلاوي ننګرهار ولایت ته د سفر پر مهال دې ولایت کې د لسو نویو جوړو شویو روغتیایي ځالو پرانیسته ترسره کړه.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د روغتیا وزارت مرکزي رئیسانو، د ننګرهار عامې روغتیا رئیس مولوي امین الله شریف، روغتیایي کارکوونکو او ځایي اوسېدونکو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني په ننګرهار ولایت کې د یادو روغتیایي ځالو جوړېدل د ټولنې وګړو ته د ښه ژوند او هوساینې په موخه یو مهمه لاسته راوړنه او د مور او ماشوم د روغتیا ښه والي لپاره یو ستر ګام وباله.

ښاغلي حقاني وویل″ دغه روغتیایي ځالې د (UNFPA) په مالي همکارۍ د دې ولایت د لسو ولسوالیو په لرې پرتو سیمو کې رغول شوي، چې په هرې یوې (۴۶۰۰۰) زره امریکایي ډالر لګښت راغلی.

ښاغلي حقاني دغه راز د روغتیایي خدمتونو پراختیا او ورته د خلکو د لاس رسي ډاډ څرګند کړ.



## ننگرهار ولایت ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال سفر

۱.۱.۱. د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او ورسره مل پلاوي ننګرهار ولایت ته د سفر پر مهال دې ولایت کې د سرطاني ناروغیو نوي جوړېدونکي ۵۰ بستریز روغتون، سیمه ییز روغتون کې د یو شمېر برخو جوړېدو او د بي بي فاطمه الزهراء ولایتي روغتون له روغتیایي خدمتونو څخه لیدنه وکړه.

په یاده لیدنه کې چې د روغتیا وزارت مرکزي رئیسانو، د ننګرهار عامې روغتیا رئیس مولوي امین الله شریف او یو شمېر نورو مسئولینو ګډون کړی و، چې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال د یادو روغتونونو بېلابېلې برخې له نږدې ولیدې.

ښاغلي مرستیال، په یادو روغتونونو کې په رامنځته شویو نویو پرمختګونو خوښي څرګنده، مسئولینو ته یې د غوره روغتیایي خدمتونو وړاندې کېدو په موخه سپارښتنې ترسره او د خدماتو لاښه والي په موخه یې د یو شمېر همکاریو ډاډ څرګند کړ.



## فراه ولایت ته د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال سفر

د ا.ا.ا. د عامې روغتیا وزارت روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال، ښاغلي ډاکتر محمد حسن غیاثي فراه ولایت ته د سفر په ترڅ کې د مل پلاوي سره په ګډه له ولایتي روغتون څخه نظارت ترسره کړ

په دغه نظارت کې چې د فراه عامې روغتیا رئیس مولوي شیخ میر صدام یې هم ملتیا کوله، د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال د یاد روغتون له بېلا بېلو څانګو څخه لیدنه وکړه، ستونزې یې په ګوته او د حل په موخه یې اړوندو مسؤلینو ته سپارښتنې وکړې

.

ښاغلي مرستیال دغه راز، روغتیایي کارکوونکي لا خدمت ته وهڅول او له هغوی یې وغوښتل، چې د ناروغانو ستونزو ته پر وخت رسېدنه ترسره او درملنې برخه کې یې لا زیاتې هڅې وکړي

.





## د عامې روغتيا وزارت رهبرۍ يو شمېر مهمې ناستې

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د روغتيا نړيوال سازمان د ختيځې حوزې عمومي مشرې اغلې حنان حسن البلخي، د يونيسف سازمان د ختيځې حوزې مشر، د بيل ګېټس بنسټ استازي، د افغانستان لپاره د روغتيا نړيوال سازمان او يونيسيف مسؤلينو او د روغتيا په برخه کې د دې ادارو يو شمېر نورو مسئولينو سره په خپل کاري دفتر کې ليدنه ترسره کړه.

په دې ليدنه کې په افغانستان کې د روغتيايي خدمتونو پر پراختيا، د پوليو واکسين او د دې ناروغۍ د مخنيوي اړوند هڅو پر پياوړتيا، د لويو لارو په اوږدو کې د روغتيايي مرکزونو جوړېدو، د خوارځواکو ناورغانو د درملنې، د دې ناروغۍ د مخنيوي او سروې، د ساري ناروغيو پر کنټرول او د روغتيا په برخه کې د نړيوالو مرستو د جلب اړوند بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د افغانستان روغتيايي سيستم د پياوړتيا لپاره د روغتيا نړيوال سازمان، يونيسف او بيل ګېټس بنسټ همکاري اړينه وبلله او د يادو ادارو له مسئولينو يې غوښتنه وکړه، چې د روغتيا وزارت سره په ګډه همغږۍ دې په هغو برخو کار وکړي، چې زمونږ لومړيتوبونه او اړتياوې دي؛ تر څو هېوادوالو ته په غوره توګه روغتيايي خدمتونه وړاندې شي.

بل لور د يادو نړيوالو ادارو مشرانو په افغانستان کې د روغتيايي وضعيت د ارزونې راپور شريک او د روغتيايي برخې پياوړتيا لپاره يې د سيمې د هېوادونو د مرستې په جلب او همکارۍ دژمنې تر څنګ د هر راز همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

دوام...

**د ۱.۱.۱. د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د (IFRC) مؤسسې له مشر احمد سليمان سره ليدنه ترسره کړه**

په دې ليدنه کې په دوه اړخيزو همکاريو ، لا ښې همغږۍ رامنځته کولو، د روغتيايي خدمتونو په ښه والي او د روغتيايي کارکوونکو په لا ښه مديريت بحث او خبرې وشوې.

د عامې روغتيا ښاغلي وزير، د IFRC مؤسسې مشر څخه د بېړنه راستنېدونکو کډوالو لپاره د روغتيايي خدمتونو برابرولو، په اندراګاندي روغتون کې د ماشومانو د زړه جراحي عملياتونو پيلولو اړوند ملاتړ، د روغتيايي کارکوونکو ظرفيت لوړولو او نورو بېلابېلو برخو کې د همکاريو غوښتنه وکړه.

د (IFRC) مؤسسې مشر احمد سليمان په افغانستان کې د خپلو روغتيايي فعاليتونو اړوند معلومات وړاندې او ورسره د شريکو شويو غوښتنو اړوند د همکارۍ ژمنه وکړه.

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د UNFPA سازمان له مشر کوابينا اسانتي سره ليدنه ترسره کړه

په دې ليدنه کې په افغانستان کې د روغتيا په برخه کې د مرستو په غوره مديريت، د روغتيايي سيستم پر پياوړتيا، د ګرځنده روغتيايي ټيمونو په مؤثريت او ثابت مراکزو بدلولو، د عامې روغتيا وزارت د پاليسۍ سره سم د روغتيايي خدماتو وړاندې کولو او د لمړيتوبونو په اساس د خدمتونو تر سره کولو اړوند بحث او خبرې تر سره شوې.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د روغتيايي خدماتو د لا مؤثريت او مثمريت په موخه د خپلې وينا په ترڅ کې د ګرځنده ټيمونو په ثابت بدلولو، د عامې روغتيا وزارت د ملي پاليسۍ سره سم د خدماتو تر سره کولو او د نړيوالو له لوري د شته مرستو په غوره مديريت تاکيد وکړ.

**د ۱.۱.۱ د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د ازبکستان له سفير، اويبيک عثمانوف او مل پلاوي سره وکتل.**

په دې کتنه کې افغانستان ته د ازبکستان هېواد څخه د درملو او طبي توکو واردولو، روغتيا برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د لا زياتې همکارۍ او افغان روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو اړوند خبرې ترسره شوې
.

د عامې روغتيا وزير، ازبکستان هېواد سره د روغتيا برخه کې دوه اړخيزې اړيکې مهمې وبللې او ويې وويل: "موږ د هېواد روغتيايي برخې پياوړتيا لپاره د روغتيايي کارکوونکو ظرفيت لوړولو، باکيفيته درملو او عصري طبي تجهيزاتو ته اړتيا لرو، چې د دوه اړخيزو ښو اړيکو او همکاريو پر اساس کولای شو دې برخې کې پرمختګ ترسره او ناروغانو ته معياري روغتيايي خدمات وړاندې کړو."

ښاغلي وزير دغه راز زياته کړه، هغه درمل چې له ازبکستان او نورو هېوادونو څخه افغانستان ته واردېږي بايد اقلام او کمپنۍ يې د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو معينيت سره ثبت او راجستر شي.

دوام...

د ا.ا.ا. د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي سره د جاپان سفير، تاکايوشي کوروما د روغتيا برخې اوسنيو همکاريو پر دوام او پراختيا ليدنه ترسره کړه

ښاغلي وزير، روغتيا برخه کې د جاپان هېواد له اوسنيو همکاريو څخه د مننې ترڅنګ د روغتيا وزارت نوې جوړې شوې ملي پاليسۍ په اړه وويل: دا پاليسي به د روغتيا برخې کاري شريکانو ترمنځ همغږي لا پياوړې، په چارو کې د ځنډ او بې ځايه لګښتونو مخنيوی به وکړي، د ټولنې اوسنيو روغتيايي ستونزو ته به ځواب ويونکې او پر ځان بسيا روغتيايي سيستم ته به په تدريجي توګه لار پرانيزي.

بل لور د جاپان سفير روغتيا برخه کې پر پياوړې همغږۍ خوښي څرګنده او دې برخه کې يې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو مرستيال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد د ازبکستان هېواد د خوړو او درملو له مرستيال سره آنلاين غونډه ترسره کړه

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو مرستيال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد، د ازبکستان هېواد عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو مرستيال، عبدالله عزيزاوف سره آنلاين غونډه ترسره او پر يو شمېر مهمو موضوعاتو يې بحث او خبرې وکړې


په دې غونډه کې د دواړو هېوادونو د خوړو او درملو مرستيالانو او مل پلاوو شتون درلود، ښاغلي مولوي حمد الله زاهد، د ازبکستاني پلاوي له ګډون څخه د هرکلي ترڅنګ د دواړو هېوادونو ترمنځ د هر اړخيزو اړيکو پياوړتيا او په ځانګړي ډول د خوړو او درملو په برخه کې مهمه وبلله.

ښاغلي مرستيال دغه راز، له ازبکستاني لوري څخه د خوړو او درملو معينيت مسلکي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو او د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د خوراکي توکو د تنظيم او کنټرول په برخه کې د تفاهم ليک د لاسليکولو غوښتنه وکړه

بل لور د ازبکستان هېواد د خوړو او درملو مرستيال، ښاغلي عبدالله عزيزاوف هم د دغې ناستې د ترسره کېدو هرکلی وکړ اوژمنه يې وکړه، چې په يادو برخو کې به هر اړخيزې همکارۍ ته دوام ورکوي او زياته يې کړه، چې ډېر ژر به د لا زياتې همغږۍ لپاره افغانستان ته سفروکړي او د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت له مسؤلينو سره به د خوړو او درملو په برخه کې د همکاريو په اړه خبرې وکړي.

دوام...

هېواد ته د بېرته راستنېدونکو لپاره په غوره توګه د روغتيايي خدماتو وړاندې کولو د همغږۍ کمېټې ناسته ترسره شوه
ياده ناســته چې د عامې روغتيا وزير، ښــاغلي مولوي نور جلال جلالي او د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني په مشرۍ د مرکزي رئيسـانو او اړوندو معينيتونو د مشـاورينو په شتون کې ترسره شوه، موخه يې د بېرته راسـتنېدونکو لپاره د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو برخه کې غوره مديريت، د سـاري ناروغيو د کنټرول په موخه د وقايوي خدماتو تر سره کول، په لا ښه توګه د روغتيايي خدمتونو برابرول، د ټاکل شوې کمېټې د دندو او مسؤليتونو اړوند د ملي او نړيوالو مؤسسـو سره د لا زياتې همغږۍ او هېواد ته د راستنېدونکو کډوالو روغتيايي حالت د څرنګوالي و، چې په اړه يې بحث او خبرې ترسره شوې.
د عامې روغتيا وزير، په ښــه توګه د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو په موخه، د عملياتي پلان ارزونې او راســتنېدونکو هېوادوالو لپاره د روغتيايي خدمتونو د پراختيا اړوند لازمې سپارښتنې وکړې.



## کیست هیداتید کبد (Liver Hydatid Cyst)

رنځوروال داکتر وحیدالله فرملی ترینر متخصص
جراحی عمومی شفاخانه رابعه بلخی

**چکیده:**
کیست هیداتید کبد یک مرض پرازیتی ناشی از لاروای پرازیت به نام اکینوکوکس گرانولوزس می باشد که در مناطق اندیمیک از جمله افغانستان، ایران، ترکیه و بخش های از امریکای جنوبی شایع می باشد این مرض با ایجاد کیست های در نسج کبد تظاهر پیدا می کندو می تواند منجر به علایم متنوع گردد.
یا حتی سالها بدون علامت باقی بماند تشـــــــخیص دقیق و به موقع وانتخاب تداوی مناسب نقش حیاتی در کنترول اختلاطات وپیش گیری از بازگشت مرض دارد .

**مقدمه:**
مرض کیست هیداتید یکی از امراض قابل انتقال بین حیوان وانسـان است که توسط مرحله لاروای کرم اکینوکوکس گرانولوزس ایجاد می گردد .

انسـان ها به صورت تصـادفی واغلب از طریق مصـرف آب یا غذای آلوده به تخم پرازیت وتماس با سگ های آلوده به این مرض مبتلا می شوند .

از آنجایی که کبد اولین عضو فلترکننده خون است بیشترین میزان کیست های هیداتید درکبد دریافت می شوند.

ادامه...

**اپیدمیولوژی:**

مرض کیست هیدانید درکشورهای با فرهنگ مالداری سنتی تماس نزدیک انســـان با سگ ها وشرایط صحی نا مطلوب شیوع بالا دارد. افغانســتان، ایران، پاکســتان، کشــورهای شــمال افریقا، امریکای جنوبی واروپای شـــرقی از مناطق اندیمیک این مرض محسوب می گردند .

در افغانسـتان استفاده گسـترده از سگ های گله وضعف در برنامه های وترنری سبب شده که مرض هیداتید کیســـت به عنوان یک مشکل صحی عرض اندام نماید.

**سیکل حیاتی پرازیت :**

سیکل حیاتی پرازیت شامل دو میزبان است .

**میزبان نهایی :**

سگ وسایر گوشـت خواران که در امعای آن ها کرم بالغ زنده گی کرده وتخمه گذاری می نمایند.

**میزبان وسط :**

گوسفند، بز، گاو و انسان که پس از بلع تخمه لارواها در بدن مهاجرت کرده ودراحشای مانند کبد و ریه ها کیست ایجاد می نماید .

**اعراض وعلایم کلینیکی:**

علایم مرض وابسته به محل اندازه وفشار کیست بر ارگان های اطراف متغیر است .
در حالات که کیست کوچک باشد ممکن است بدون علامت باقی بماند .

**علایم شایع عبارت اند از :**

درد مبهم با فشار در ناحیه فوقانی راست شکم

دلبدی، بی اشتهایی بزرگی کبد با کتله قابل لمس
یرقان در صورت فشار بالای مجاری صفراوی

عکس العمل های الرژیک شـــدید در صــورت پاره شـــدن کیست

روش های تشخیصی:

سونوگرافی روش اولی وابتدایی تشخیص است .

در موارد مشـــــکوک و یا مغلق ام آر آی و سی تی اسکن برای ارزیابی بهترموقعیت کیســـــت وارتباط با ساختمان های مجاور استفاده می شود .

معاینات سیرولوژیک:

تست های لایزا برای شناسایی انتی بادی علیه پرازیت، حساسیت و ویژه گی های این تست متغیر است ونمی تواند برای تشخیص قطعی استفاده گردد.
طبقه بندی کیست ها :

سازمان صحی جهان کیســــــــــت های هیداتید را بر اساس سونوگرافی تقسیم کرده است .

کیست های فعال :

کیسـت ساده مملو از مایع با جدار نازک ومتجانس وکیســت های چند جوفی با ویزیکول های دختری نما مانند تایرگادی.

کیســت انتقالی یا درحال گذار: جدار داخلی کیســت جدا شده یا کیست حاوی ویزیکول های دختری با تغییرات جدار .

کیســت های غیر فعال : مایع غیر متجانس بدون ویزیکول های دختری وکاهش فعالیت بیولوژیک

کیست های مرده :جدار ضخیم وکلسی فاید شده بدون فعالیت .

تداوی:

انتخاب تداوی بســــتگی به نوع ، اندازه ، محل وعلایم کیست دارد .

ادامه...

تداوی:

انتخاب تداوی بستگی به نوع ، اندازه ، محل وعلایم کیست دارد .

تداوی طبی:

دوای انتخابی البنداوزول است به مدت یک الی شش ماه بسته به وضعیت کیست .
در کیست های کوچک ساده می تواند موثرباشد .
PAIR روش

Aspiration رPuncture Aspiration, Injection, Re
به کمک سونوگرافی محتویات کیست کشیده شده مواد سکلوروزانت مانند الکول و یا سودیم کلوراید های پرتونیک تزریق می گردد.

CE1 وCE2 مخصوص سیست های ساده
تداوی جراحی:

جراحی محافه کارانه :

درین روش بخش از کیست برداشته شده اما نسج کبدی اطراف ان تا حد امکان حفظ میگردد

سیستکتومی ودریناژ:

باز کردن کیست ،خارج کردن محتویات آن سژس دریناژ آن با یا بدون لواژ با مواد سکلیوسیدل

برداشتن بخش از چدار کسیت:

برداشتن قسمت برجسته جدار خارجی کیست وباقی گذاشتن بخش های که به ساختمان های مجاور چسپیده اند .

اومینتوپلاستی:
پس از تخلیه سیست فای خالی توسط سرب پرمی شود تا از ایجاد قضای مرده ، آبسه و فستول جلوگیری شود .
capitinage:
دوختن دیوارهای داخلی کیست برای کاهش فضای خالی
تیوب دریناژ:
قراردادن تیوب به داخل جوف باقی مانده جهت خروج ترشخات وباقی مانده مایع کیستی .
جراحی رادیکال:
دراین روش تمام کیست وانساج استیلا شده با هدف وقایه ازعود کیست برداشته می شود معمولا برای کیست های بزرگ کلسیفاید شده واختلاطی :Total pericystectomy
برداشتن کامل کیست همراه با طبقات اطراف کیست (جدارفبروتیک اطراف کیست ) یک روش جذری اما با خطر بیشتر خون ریزی : Hepatic Resection
برداشتن بخش از کبد که در برگیرنده کیست است مثلا لوب راست کبد یا شگمنت خاص این روش در صورت وجود کیست های متعدد کیست کلسیفاید یا در مواردی با خطر بالای عود استفاده می شود .
نوت :
انتخاب انواع پروسیجرها بستگی به اندازه ومحل کیست دارد، تعداد کیست ها ارتباط کیست با مجاری صفراوی وموجودیت ویا عدم موجودیت کلسیفیکیشن وضعیت عمومی مریض وتجربه جراح دارد.
نتیجه گیری:
کیست هیداتید کبد هم چنان یکی از مشکلات مهم صحی در کشورهای رو به انکشاف به جساب می آید .
افزایش آگاهی عامه، آموزش کارکنان صحی تشخیص به موقع ، تداوی مناسب گام های اساسی در کاهش بروزاختلاطات این مریضی استند .

ادامه...

تداوی طبی:
دوای انتخابی البنداوزول اســت به مدت یک الی شــش ماه

بسته به وضعیت کیست .
در کیست های کوچک ساده می تواند موثرباشد .
PAIR روش
Puncture Aspiration, Injection, Re Aspiration
به کمک سونوگرافی محتویات کیســـت کشــیده شده مواد

ســکلوروزانت مانند الکول و یا ســودیم کلوراید های پرتونیک

تزریق می گردد.

CE1 وCE2 مخصوص سیست های ساده
تداوی جراحی:
**جراحی محافه کارانه :**
درین روش بخش از کیســت برداشته شده اما نســج کبدی

اطراف ان تا حد امکان حفظ میگردد

**سیستکتومی ودریناژ:**
باز کردن کیست ،خارج کردن محتویات آن سژس دریناژ آن با

یا بدون لواژ با مواد سکلیوسیدل

**برداشتن بخش از جدار کسیت:**

برداشتن قسمت برجسته جدار خارجی کیست وباقی گذاشتن

بخش های که به ساختمان های مجاورچس‌پیده اند .
اومینتوپلاستی:
پس ازتخلیه سیســـت فای خالی توسط سرب پرمی شود تا از

ایجاد قضای مرده ، آبسه و فستول جلوگیری شود .

capitinage:
دوختن دیوارهای داخلی کیست برای کاهش فضای خالی

**تیوب دریناژ:**

قــراردادن تیوب به داخل جوف باقــی مانده جهت خـــروج

ترشخات وباقی مانده مایع کیستی .

جراحی رادیکال:

دراین روش تمام کیســت وانســاج استیلا شده با هدف وقایه ازعود کیست برداشته می شود معمولا برای کیست های بزرگ کلسیفاید شده واختلاطی .
Total pericystectomy:
برداشتن کامل کیســـــت همراه با طبقات اطراف کیســـــت (جدارفبروتیک اطراف کیســـت ) یک روش جذری اما با خطر بیشتر خون ریزی .

Hepatic Resection :

برداشتن بخش از کبد که در برگیرنده کیســـت است مثلا لوب راست کبد یا شگمنت خاص این روش در صورت وجود کیست های متعدد کیســت کلســیفاید یا در مواردی با خطر بالای عود استفاده می شود .
نوت :
انتخاب انواع پروسیجرها بستگی به اندازه ومحل کیست دارد، تعداد کیست ها ارتباط کیســت با مجاری صفراوی وموجودیت ویا عدم موجودیت کلســـیفیکیشـــن وضعیت عمومی مریض وتجربه جراح دارد.
نتیجه گیری:
کیست هیداتید کبد هم چنان یکی از مشکلات مهم صحی در کشورهای رو به انکشاف به حساب می آید .
افزایش آگاهی عامه، آموزش کارکنان صحی تشـــــخیص به موقع ، تداوی مناســـب گام های اســـاســـی در کاهش بروزاختلاطات این مریضی استند .


References :

1.Burinicardi FC, Andersev DK, Biliar ,TR,Dunn,Dl Kao LS Hunter , JG,et at Schwartz's Principles of Surgery 11th ed New York ; Mc Graw- Hill Education2019 p 1415 – 1418

2.Towvsed CM,Beuchamp RD ,Evers BM, Matrox KL, Sabiston Textbook of Surgery : The Biological Basis of Modern Surgical Practice 21st ed . Philadelphia Elvester; 2022, P: 1298- 1302

3.Cameron JL, Cameron AM, Current Surgical Therapy, 14th ed Philadelphia; Elsevier; 2022, P980 -984

**خبرونه او راپورونه**

د ۱.۱.۱. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د عامې روغتیا وزارت له لوري د نوې جوړې شوې ملي پالیسۍ د تشریح ورکشاپ کې ګډون وکړ.

په دې ورکشاپ کې د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال، ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي، مرکزي او ولایتي رئیسانو او د روغتیا برخې کورنیو او نړیوالو شریکانو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د روغتیا وزارت له لوري نوې جوړه شوې ملي پالیسي اړینه وبلله او د روغتیا برخې له کورنیو او نړیوالو شریکانو یې غوښتنه وکړه، چې د یادې پالیسۍ په ښه تطبیق کې خپلې هڅې دریغ نه کړي.

د عامې روغتیا وزیر وویل: " له خپلو کاري شریکانو سره د منظمو اصولو او ګډې همغږۍ له لارې به د یادې پالیسۍ پر مټ د روغتیایي برخې لومړیتوبونه نظر کې نیسو؛ تر څو په ټول هېواد کې روغتیایي خدمات پیاوړي او ولس ته د اسانتیا رامنځته کېدو سبب شي".

د نوې جوړې شوې پالیسۍ تطبیق سره به د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د هېواد ټولو وګړو ته د غوره روغتیایي خدمتونو وړاندې کېدو تر څنګ، دې برخه کې ګڼ شمېر پرمختګونه رامنځته شي.




په همدې موخه جوړو شـویو مراسـمو کې د عامې روغتیا وزیر ښـاغلي مولوي نور جلال جلالي، د روغتیا نړیوال سازمان استازي ډاکټر ایډوین سینیزا سلاوډر، د اروپایي ټولنې استازو، د وزارت مرکزي رئیســــانو، اندراګاندي د ماشــومانو درملنې روغتون رئیس، روغتیایي کارکوونکو او د رســـــــــنیو اســــــــــــتازو ګډون درلود.

د عامې روغتیا وزیر، د روغتیا نړیوال سـازمان او اروپایي ټولنې له اسـتازو څخه مننه وکـړه او ویــې وویل، هڅه کوو چــې د هېواد په ټولو ملــي او تخصصــي روغتونونو کې هېوادوالو ته معیاري روغتیایي خدمات وړاندې کړو.

ښاغلي وزیر دغه راز، د سرچینو پر سالم مدیریت او شفافیت ټینګار وکړ؛ تر څو د عامې روغتیا سکټور د نورو له احتیاجه خلاص او په ځان بســـــیا شي.

د عامې روغتیا وزارت د تخصصــي او ثالثي روغتونونو رئیس، ډاکټر امین الله مومند د دغو ماشینونو د ساتلو لپاره اړوندو مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې وکړې؛ تر څو د خرابېدو مخنیوی یې وشي.

## د عامې روغتیا وزارت له لوري اندراګاندي د ماشومانو درملنې روغتون کې د ٦٧ میلیونه افغانیو په لګښت د اکسیجن د تولید دستګاه، جنراتور او برانکوسکوپي خانګه پرانیستل شوه

همدارا ز د معالجوي طب لوی رئیس، ډاکټر وحدت الکوزي ووېل، د یادو ماشینونو په فعالیت سره به ناروغانو ته لازمې روغتیایي اسانتیاوې رامنځته او نږدې راتلونکي کې به دغه روغتون کې د سرطان ناروغۍ درملنې ځانګړې څانګې د جوړېدو شاهدان اوسو.

د یادونې وړ ده، چې د اکسیجن د تولید دستګاه، جنراتور او د برانکوسکوپي څانګه چې پر عصري تجهیزاتو سمبال ده، د اروپايي ټولنې په مالي مرسته د یو میلیون او پنځه شپېته زره ډالرو په لګښت، چې نږدې ٦٧ میلیونه افغانۍ کېږي، جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

## د ۱.۱.۱. د عامې روغتیا وزارت له لوري د سرطان ناروغۍ پر وړاندې د پوهاوي غونډه ترسره شوه.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د سندونو، اړیکو او مقام دفتر لوی رئیس الحاج شیخ محمد طاهر حلیم، د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لوی رئیس ډاکټر حیدرخان حیدر، د وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو، د روغتیا نړیوال سازمان استازو او روغتیاپالانو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني سرطان ناروغي یوه نړیواله روغتیایي ننګونه وبلله او د دې ناروغۍ د مخنیوي لپاره یې د عامه پوهاوي لوړول اړین وګڼل، ترڅو خلک د یادې ناروغۍ د نښو، خطرونو، عواملو او درملنې برخو کې معلومات ترلاسه کړي، چې دا چاره به د یادې ناروغۍ په ژر تشخیص او مخنیوي کې مرسته وکړای شي.

ښاغلي مرستیال، دغه راز د روغتیا وزارت له لوري د سرطان ناروغۍ د مخنیوي، درملنې او خدمتونو پراختیا ډاډ ځرګند او په مرکز کابل کې یې د ۲۰۰ بستریز روغتون د خدماتو پیل د سرطان درملنې برخه کې د پرمختګ یو مهم ګام وباله.

په یاده غونډه کې د عامې روغتیا وزارت د سندونو، اړیکو او د مقام دفتر لوی رئیس الحاج شیخ محمد طاهر حلیم، د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي لوی رئیس ډاکټر حیدر خان حیدر، د تخصصي او ثالثي روغتونونو رئیس ډاکټر امین الله مومند، د روغتیا نړیوال سازمان استازي او یو شمېر نورو مسئولینو د سرطان ناروغۍ د وقایوي تدابیرو، مخنیوي او کنټرول اړوند هر اړخیزې ویناوې ترسره کړې



## د پکتیا ولایت سیمه ییز روغتون کې په لمړي ځل د اکمال تخصص پروګرام پیل شو!

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي پکتیا ولایت ته د خپل رسمي سفر پر مهال د دې ولایت په سیمه ییز روغتون کې په لمړي ځل د اکمال تخصص پروګرام پرانسته وکړه، یاد روزنیز پروګرام چې په لمړي سر کې به د پنځو څانګو (عمومي جراحي، عمومي داخله، د ماشومانو عمومي داخله، نسایي ولادي او ارتوپیدي) درلودونکی وي، چې د ځوانو ډاکټرانو د روزنې او د زون په کچه د متخصصینو د شتون اړوند به خورا مؤثر ثابت شي.

د عامې روغتیا وزیر، د یاد پروګرام د پرانستې پر مهال د روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې برنامو ته په اشارې سره وویل، هڅه مو دا ده چې د اکمال تخصص برنامه لا پراخه او معیاري کړو، چې په مرسته به یې د هېواد روغتیایي سیستم لا پیاوړی او شته ستونزې به تر ډېره حل شي، هغه د پکتیا ولایت سیمه ییز روغتون لپاره د سي تي سکین خدماتو اړوند هم یادونه وکړه، چې په نږدې کې به یې تدارکاتي چارې تر سره شي.

دوام...

د یادې پرانیستې پر مهال د عامې روغتیا وزارت د اکمال تخصص لوی رئیس، ډاکټر نثار احمد نیازي په پکتیا ولایت کې د اکمال تخصص برنامې پیل کې درهبرۍ هڅې د ملت لپاره د ښې ارادې او تعهد ځرګندونه وګڼله او د خپلې وینا پر مهال یې یادونه وکړه، چې ډېر ژر به یاد پروګرام ته ځوانان معرفي او د اړوند اړینو بستونو لپاره به هم ازموینه واخیستل شي.

**د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي پکتیا ولایت ته د سفر پر مهال :**

د مرکز ګردیز اړوند «رباط» د کېوالو ښارګوټي کې د نږدې ۲۶ میلونه افغانیو په لګښت د یو بشپړ روغتیایي مرکز (NCHC پرانېسته تر سره او یاد مرکز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

هندوستان هېواد د افغانستان عامې روغتیا وزارت سره د (۴،۸) ټنه واکسینو مرسته وکړه

د عامې روغتیا وزارت رهبري د هندوستان هېواد څخه د یادې مرستې په موخه مننه او قلرداني کوي او دا واکسین د بېلا بېلو ناروغیو لکه؛ د سپي چیچنې (Rabies) تیتانوس، تور زیړي (هیپټایټس بي) او انفلونزا مخنیوي لپاره اړین ګام یادوي، چې په مرسته به یې په افغانستان کې د زرګونو خلکو ژوند وژغورل شي.



# اسلام پخپله قانون او بشپړ ټولنیز ژوند دی!

لیکوال: م حمادشیرزاد

اسلام د نړۍ او بشریت لپاره تر ټولو غوره دین دی، دا د خدای تعالی فیصله ده او که په واقعي معنی وکتل شي، یواځینی دین اسلام دی، چې د بشریت د هرې برخې لپاره یې خپل خپل اصول او تګلاره په نظر کې نیولې او وړاندې کړی ده، اسلام یواځې یو دین نه؛ بلکې د ټول ژوند او نظام لپاره یو غوره لاربښود دی، هغه که ټولنیز ژوند دی، که سیاست، اخلاق، مدنیت او کورنی ژوند دی او هغه که د بازار او چاپیریال ژوند دی، خو دې دین د دغه ټولو لپاره هر اړخیزه اصول بیان کړې او تګلاره یې ورته ټاکلې ده، تر څو ټول انسانیت او بشریت د یو غوره ژوند څخه برخمن او د دنیا نظام په ښه توګه وچلیږي.
دا اړینه ده چې انسانان باید پر هر ځای او هره برخه کې د ځان لپاره د اسلام د همدغه قانون او تګلارې په رڼا کې ځانته یو مسیر وټاکي، هغه که په ټولنیز ژوند کې وي او یا هم خپل فردي ژوند، لکه په شخصي ژوند او یا د هر فرد لپاره ځینې مهم اصول او کړنې دي چې په نظر کې یې باید ونیسي او په عملي کولو سره به یې ژوند په ډیره ښه توګه پر مخ ځي او د انسان انفرادي ژوند پرې ښکلی کیږي او نوره ټولنه هم ورسره هوسا وي، لکه ، تقوی، صبر، استقامت، اخلاق، نیک چلند، ټولنیز اداب، له حسد او کینې ځان ساتل، احترام او ادب کول او داسې نور د انسان لپاره غوره اصول دي، چې د اسلام مبارک دین تر ټولو زیات ټینګار پرې کړی دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول سیرت هم د دغې درس ورکړی دی.
اسلام همدا راز د اجتماعي او ټولنیز ژوند لپاره اړین اصول او قانون په نظر کې نیولی او په عملي کیدو یې ټینګار کړی دی، لکه عدل، مساوات، ټولینیز اخلاق، د یو بل حقوق پیژندل، خیر رسول، ښیګڼه کول، د یو بل لاسنیوی کول، د بل خیال ساتل، همدردي کول او داسې نور داسې کړنې او اصول دي چې اجتماعیت او ټولنیز ژوند ته ښکلاء وربښي، چې نور مذهبونه او ادیان داسې اجتماعیت نه لري او نه یې په اړه ټینګار کړی، لکه قرآن کریم مسلمانانو ته د اتحاد، اتفاق او یوځای والي ډیرې توصیې کړي او ویلي یې دي چې ټول مسلمانان سره ورونه دي.

دوام...

که موږ وګورو د مدني او کورني ژوند او په ټولنه کې د ښه دود او دوستور لپاره هم ډېر اصول غوره کړي، چې په عملي کولو سره یې ټولنه لا هم ښکلې کیږي، لکه نکاح، چې له امله یې لوی اجتماعیت رامنځته کیږي، قرابت او خپلوۍ زیاتیږي او تر څنګ انسان په غوره لاره خپل حاجت پوره کولای شي،د نورو په څیر نه چې نه یې نسل معلوم وي او نه یې هم ښځه او نه مور، همدا راز د همدې کورني ژوند لپاره که چیرته د ښځې او خاوند تر منځ په غوره توګه نه تیریږي، طلاق یې یوه بله وسیله راویستلې، میراث، د والدینو تربیه او روزنه، چې د خدای تعالی د احکاماتو او د خوږ نبي له ژوند موږ ته وړاندې کړي.

که لږ مخته لاړ شو نو د انساني ژوند د بقاء، رزق او وخت تیرولو لپاره هم اسلام خپل اصول ټاکلي او داسې اصول چې په عملي کولو سره به یې انسان ته سکون او راحت وي، رزق حلال ګټل، سود نه کول، د بل حق نه خوړل، په حرامه نه پیدا کول، صدقه ورکول، د غریب خیال ساتل، تجارت او اقتصادي پرمختګ کول، د زراعت او کروندې اصول، زکات ویستل، په عادلانه او منصفانه توګه ویش او داسې نور چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو له ژوند معلومیږي او پخپله رسول الله مبارک ویلي چې صادقه او امین تاجر به د انبیاؤ، صادقانو، شهیدانو او صالحینو سره په صف کې دریږي.



## د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو د قاچاق د مخنیوي قانون د انفاذ په هکله

## د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله تعالی فرمان:

د عامې روغتیا وزارت وظایف او مکلفیتونه

شپږمه ماده:

د ډاکټرانو له خوا د شفري او قیدي نسخو د لیکلو او غیر مجازو درملو د تجویز څخه مخنیوی کول؛

د درملو او روغتیايي محصولاتو اړوند حکمونه

۱. د درملو او روغتیايي محصولاتو د نرخونو په تعیینولو کې د عامې روغتیا وزارت صلاحیت لري.

(۱۵) ماده:

۲. د عامې روغتیا وزارت څخه پرته نورې اړونده ادارې د تولیدي او وارداتي شرکتونو له لوري د تولید شویو او وارد شویو درملیزو او روغتیايي محصولاتو د پلور بیو په ټاکلو کې د مداخلې حق نه لري.

(۱۶) ماده:

د دودیز طب طبیبانو مکلفیتونه:


۱. د دودیز طب طبیبان مکلف دي چې په دودیز طب کې د کارونې وړ درمل او روغتیايي محصولات د عامې وزارت د تائید وروسته د اړونده تګلارې په رڼا کې وارد، تجویز او وپلوري.

(۶۶) ماده:

د دودیز طب طبیبان مکلف دي چې په دودیز طب کې د هغو درملو او روغتیايي محصولاتو له کارونې، تطبیق او استفادې څخه ډډه وکړي چې د خوندیتوب په اړه یې علمي او معتبر شواهد او مدارک موجود نه وي.

(۶۷) ماده:






**له سوځېدلو وروسته دا چارې ترسره کړئ!**

۱- پر سوځېدلي ځای اوبه د ۱۰ یا ۲۰ دقیقو لپاره واچوئ، یخې او یا ډېرې یخې اوبه باید استعمال نشي .

۲ - له سوځېدلي ځای ځخه ګاڼه او زیور لرې کړئ.

۳ - له سوځېدلي ځای ځخه کالي لرې کړئ، خو که کالي په پوست پسې نښتي وي مه یې لرې کوئ .

۴ - سوځېدلی ځای په پاک پلاستیک باندې پټ کړئ.

۵ - که مخ یا سترګې سوځېدلي وي، نو ناروغ جګ کښېنوئ تر څو دغه برخه و نه پړسېږي.

٦ - که په سوځېدلي ځای تناکې را وخېژي بغیر د ډاکتر له مشورې یې مه ماتوئ.

۷ - د درد لپاره پارستامول استعمال کړئ.

**په لاندې وختونو کې ناروغ حتماً روغتون یا ډاکټر ته یوسئ :**

۱ - که سوځېدلې ساحه د ناروغ تر لاس غټه وي.

۲ - که د سوځېدلي ځای پوست سپین بخن یا توربخن شي.

۳ - که د مخ، لاسونو، پښو او داسې نورو غړو له سوځېدلو وروسته په هغوی تناکې را وخېژي. که سوځېدل شدید نه وي او پورته حالتونه وجود و نلري نو تاسو کولای شئ سوځېدلی ځای په ورځ کې دوه درې ځله په واسلینو غوړ کړئ، پټېدلو ته اړتیا نلري او پخپله ښه کیږي.




http://

@MOPH_AFG

د عامې روغتیا وزارت نشراتي آدرسونو ته د لاسرسي په موخه دغه بارکودونه(Scan) کړئ!

ویبپاڼه:

https://moph.gov.af/ps

ایکس ( ټویټر ):

https://tinyurl.com/3f9zy3x9

یوټیوب:

https://tinyurl.com/57x7w8d8

واټس آپ:

https://tinyurl.com/387u4wfj

فیسبوک:

https://tinyurl.com/y9j3yvsf






# صحت
# و
# زندگی

۴
شماره

دور چهارم، ربیع الاول ۱۴۴۷

۱۴۰۴/۶/۱ هـ لمریز